د لوړو زده کـــــــــــړو وزارت

اریــــــانادلوړوزده کـــړو مؤسسه

د حقوقواوسیاسي علوموپوهنځي

داداري او دیپلوماسۍ څانګه

موضوع:

# سیاسي احزاب او ذي نفوذه ډلې

(دلیسانس دورې پایلیک)

Ketabton.com

ترتیب کوونکی: حمیدمنصـــور (منصور)

لارښوداستاد : مولوی سعیدالله (مصلح)

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library

# تعهد لیک

**حمیدمنصــور د عـــــبدالولي زوی**
**د حقوقو او سیاسی عـــلومو پوهنځی**
**د اداري او دیپلوماسی څانګې محصل**

زه حمیدمنصور پوره ډاډ درکوم چې ددې مونوګراف ټوله منځپانګه زما دانفرادي کوښښونو او هلوځلو پایله ده ، اوهمدارنګه د اریانا د لوړو زده کړو په مؤ سسه کې( سیاسی احزاب او ذی نفوذه ډلې) تر عنوان لاندې بله لیکنه نه ده ترسره شوې. او وعده کوم چې دغه مونوګراف به په راتلونکې کې د بلې لیسانس دورې یاهم بلې تحصیلي اداره کې د لیسانس دپوره کېدا موخه د پایلیک په توګه استفاده ترې نه کوم.

ټولي سرچینې اوماخذونه چې په دې مونوګراف کې استفاده ترې شویده په منظم ترتیب سره ذکر شویدي.

**حمید منصور** (منصور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننلیک

---

له هرڅه نه وړاندې دلوي الله(جل جلاله)حمد ،ثنا اوشکر اداء کوم ،چې دډېرو ناهیلیواوستونزوسره سره یې ماته دا توفیق راوبخښه، چې داریانا دلوړو زده کړو په موسسه کې دحقوقو اوسیاسی علومو پوهنځی د ادارې او دیپلوماسۍ په څانګه کې مې خپله څلورکلنه دلسانس دوره په بریالیتوب سره بشپړه کړه ، نو زه دیو نوی فارغ زده کړه یال په توګه د اریانا دلوړو زده کړو د موسسی حقوقودپوهنځی دمشرتابه ، دادارې له همکارانو، ددرنو او مهربانو استادانو څخه مننه کوم چې خپلې علمی مرستې اوکوښښونه یې راڅخه نه دی سپمولې ، او همدارنګه په ځانګړی ډول د دې مونوګراف لارښود استادمحترم مولوی سعیدالله (مصلح) څخه یوه نړۍ مننه کوم چې دمونوګراف په لیکلو کې زما بشپړ لاسنیوی وکړ اوخپلې ګټورې مشورې او لارښوونې یی راته وکړې چې د نوموړی له همکارې پرته به ددې مونو ګراف بشپړول ممکن نه وو .په پای کې باید د خپل لورانده اومهربانه پلار جان او هم دخپلې ټولې کورنۍ له غړوڅخه مننه کوم چې ما سره یې پدې تحصیلی دوره کې له مالی لګښتونو سربیره یی دزیاتې حوصلې اوزغم څخه کار اخیستی نودالله ج له دربار څخه ورته د زیات اجرغوښتونکی یم .

**حمید منصور** (منصور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تقريظ

دلوړو زده کړو په بهير کې اړينه وي چې هر محصل دخپلې تحصيلی دورې په پای کې ديو ځانګړې سوژې (موضوع) په بڼه يوه رساله يا مونوګراف وليکی .

دليسانس په دوره کې د مونوګراف ليکل دهرمحصل له مکلفيتونو څخه دی. په همدې موخه ښاغلی حميد منصور دحقوقو او سياسی علومو دپوهنځی محصل هم د خپلي تحصيلي دوري پايليک (سياسي احزاب او ذي نفوذه ډلې ) ترنامه لاندې يی دغه رساله ترتيب او ليکلی ده نوموړی په دې رساله کې دپوره زيار او زحمت څخه کار اخيستی دی زه د لاربنود استاد په توګه يې کوښښونه او هڅې ستايلو ترڅنګ تائيدوم ، بايد يادونه ورکړم چې نوموړي محصل دمونوګراف د ليکلو پرمهال له ماسره مشوره کړي او زما لارښوونې يې دمونوګراف په ليکلو کې پوره رعايت کړي دي ، چې د مونوګراف د بشپړېدا لامله ورته مبارکې وايم او د الله (ج)د دربار څخه په ژوند کې ورته د نورو برياوو غوښتونکی يم .

**استاد مولوی سعيدالله (مصلح)**

داريانا دلوړوزده کړو مؤسسې دحقوقو او سياسي علوموپو هنځي معاون او استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

سرلیک........................................................................مخ

سریزه: ........................................................................ 1
لومړی فصل........................................................................ 7
لومړی مبحث - دسیاسي حزب پېژندنه : ........................................ 7
دویم مبحت- د سیاسي حزبونو دپیداکېدو په هکله مختلف نظریات:....... 9
دریم مبحث-  دسیاسي حزبونو خصوصیات:.................................... 12
څلورم مبحث-دسیاسي احزابو درامنځ ته کېدو اغراض او مقاصد:..... 14
پنځم  مبحث-  دسیاسي حزبونو ځانګړې دندې:.............................. 15
شپږم مبحث- دسیاسي حزبونو طبقه بندي:.................................... 19
۳: دسیاسي احزابو طبقه بندي دکاري ساحې له حیثه: ..................... 22
۷بحث: دسیاسي احزابو ګټي او نواقص .......................................... 23
لومړی  جز-  دسیاسي داحزابو ګټې: ............................................ 23
دوهم جز: دسیاسي داحزابو تاوانونه: ........................................... 25
۸بحث: دسیاسي احزابو اهمیت ..................................................... 27
دوهم فصل ............................................................................ 32
حزبي نظامونه ........................................................................ 32
۱مبحث- رقابتي حزبي نظامونه: ................................................. 32
۱جز: دوه حزبي نظامونه............................................................ 33
۲جز-څوحزبي نظامونه .............................................................. 33

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲مبحث: غیر رقابتي حزبي نظام:........................................ 34
۱جز:یو حزبي نظام:..................................................... 34
۲جز-دیو حزبي نظام خصوصیات: ...................................... 35
۳مبحث -د دوه حزبي نظامونو ګټې او نواقص: ........................... 37
۱ جز: د دوه حزبي نظامونو ګټې:....................................... 37
۲جز: د دوه حزبي نظام نواقص ......................................... 38
۴مبحث:د څو حزبي نظامونوګټې او نواقص. .............................. 39
دریم فصل............................................................... 40
دفشار ګروپونه.......................................................... 40
لومړی مبحث- دفشار ګروپونو تعریف او دهغوي متشکله عناصر: ... 41
دریم جز- دفشار تطبیق:............................................... 44
۲ مبحث-دفشار ګروپونو ځانګړتیاوي:..................................... 45
دریم جز: دفشار ګروپونو اوسیاسي احزابو ترمنځ فرق:.................. 45
دریم بحث: دفشار ګروپونو پېژندنه او یشنه (تقسیم بندي):.............. 46
۴ بحث- دفشار ګروپونو ځانګړې دندې:.................................... 48
۵ بحث: دفشارګروپونو سیاسي اهمیت: ................................... 50
پایله ...................................................................... 56
وړاندیزونه:................................................................ 57
ماخذونه................................................................... 59

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

الحمدلله رب العالمین والعاقبه للمتقین والصلوة والسلام علي سید الانبیاء والمرسلین محمد واله واصحابه اجمعین اما بعد:لقد قال الله تعالی في القرآنکریم .

یا ایهاالناس انا خلقنکم من ذکرا وانثی و جعلنا کم شعوبا وقبایل لتعارفوا ان اکرمکم عندالله اتقاکم ان الله علیم خبیر [1]

هیڅوک نشي کولاي چې په انفرادي ډول دې د ورځني ژوند ټولې چارې په ښه او منظمه توګه پرمخ بوځي. حتمًا به دستونزو او مشکلاتو سره مخ کېږي نو ځکه خو مجبوریږي چې دجامعې نورو وګړو ته مراجعه وکړي او د ستونزې دحل لپاره ورته یوه مناسبه لاره پیدا کړي.
له بل پلوه ننۍ سیاسي اوضاع هم د دې تقاضا کوي چې نه باید څوک تنها او یوازی پاتې شي ښه به وي که یوڅوک ترشا یو ملاتړي ولري او دیو چاسره سره خپل فکر شریک کړي.
د دې ترڅنګ هغه امورات او کړنې چې په جمعې ډول او د ډېرو فکرونوزیږنده وي حتماً به څو چنده ترهغو بهترې وي چې په یوازیتوب او تنهایي سره ترسره کېږي
ځکه چې مونږ په دې عقیده لرو چې وَأَمْرُهُمْ شُورَي بَيْنَهُمْ (خپل کارونه په مشورې سره وکړئ)
نو ځکه خو لازمه ده چې اشخاص دې حتمًا دنور سره همانګي ولري ترڅو یې له یو پلوه دپروردګار عالم رضا حاصله کړې وي او له بل پلوه

[1]:القرآن کریم.[سورت حجرات ایه ۱۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library

به يې په ورځنيو چارو کې ديوبل سره په تعاون او همکاري کې برخه اخيستي وي همدارنګه ديوبل سره به يي صلاح او مشوره کړي وي او دخپلو ورونو لپاره به يې ځان يوې لوي قرباني ته هم اماده کړي وي.

ضرور ده چې دا غه ټولنيز والي او اجتماعيتوب نه بايد دهغه څه لپاره وي کوم چې دپروردګار عالم دخفګان او دملت په ضرر تماميږي. بلکې دغه يوځاي والي بايد تنها د اسلام دمبارک دين دپرمختګ او دخپلو اولسونو دهوسا او ارم ژوند دتيږرولو لپاره وي او بس.

په ننني‌و دولتونو کې يو سلسله داسې سازمانونه رامنځ ته شوي دي چې پکې دګډون له کبله کېداي شي چې همدغه پورتني فکتورونه په اسانۍ سره ترلاسه شي.

داچې څنګه په دغو سازمانونو کې ګډون وکولاي شو او څنګه و پوهيږو چې ګواکې زمونږ ارمانونه دي همدلته تحقق پيداکړي.لازمه ده چې مخکې ترګډون له هغوئ سره پوره اوکامله بلدتيا ولرو. نوځکه خو ما هم دخپلې څلور کلنې تحصيلي دورې دپاي دسند لپاره همدا موضوع وټاکله ترڅو له يو پلوه مې خپله وجيبه او مسؤليت ترسره کړي وي او له بله پلوه به مي کېداي شي چې خپلو وطنوالو ته په همدې نيمګړي ليکنه کې يوڅه ورکړي وي په همدې هيله مې خپله دغه ليکنه په دريو فصلونو و وېشله چې لومړي فصل کې دسياسي حزبونو پېژندنه، خصوصيات، دندې،طبقه بندي دسياسي حزبونو ګټې او نواقص او باالخره دسياسي حزبونو اهميت تشريح شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم فصل یې حزبي نظامونو ته ځانګړې ګړې شوي دي چې پکې دحزبي نظامونو پېژندنه او همدارنګه د دغو نظامو نو ګټې او نواقص تشریح شوي دي.

په دریم فصل کې بیا دفشار ګروپونه تشریح شوي دي چې پکې دفشارګروپونو پېژندنه او متشکله عناصر،دفشارګروپونو تقسیم بندي،دفشارګروپونو دندې،دفشارګروپونو اوسیاسي احزابو ترمنځ فرق او باالخره دفشارګروپونوسیاسي اهمیت پکې واضح شوي دي، او ترټولو نه روسته بیا په کې بیا تبصره لري اوبس،په پای کې دلوي خداي (ج) دربارته لاسونه لپه کوم او وایم چې اې خدایه! په ګران هیواد کې دتل لپاره یو اسلامي نظام حاکم کړې.

**دموضوع داختیار لاملونه:**

دا موضوع مې دځېړنې اولیکنې لپاره ځکه وټاکله چې :

۱ـ دافغانستان خلک په دې پوه شی چې کوم ډول سیاسی حزب کې ګډون وکړي.

۲ـ د سیاسی حزبونو ګټی څه دی.

۳ـ اپوزیسیون شتون په هیواد کې څه ګټی لری او یو اپوزیسیون کومې نقطی په نظر کی ونیسی چې د هیواد او خلکو په نفع تمام شی .

۴ـ ذی نفوذه ډلی په سیاسی احزابو کی کوم رول ولری.

۵ـ دافغانستان اپوزیسیون څه ډول رول باید په موجوده وخت کې تر سره کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دموضوع مسئله :** که څه هم ددې موضوع په اړه ډېرزيات کتابونه،مقالې،مونوګراف او څېړنې شوي دي، خو ما غوښتل چې ديوې مشخصې موضوع په اړه پرې د بشپړو معلوماتو راټولونه وکړم ترڅو لوستونکي ترې خبرکړم.

**دموضوع هدف :**

دغه موضوع دلاندې اهدفو او موخو په پام کې نيولو سره ليکل او ترتيب شويده .

i. احزاب د ديموکراسۍ دملاتير تشکېلوي نوځکه خو دنويو ديموکراتيکو حکومتونو لپاره د احزابو شتون يوضروري امر دي څرنګه چې په ښې حکومتدارۍ کې د احزابوشتون حتمي دي نو احزاب چې يولړ خاص او ځانګړې دندې پرمخ بوځي.

ii. احزابو او ذی نفوذه ډلو پيژندنه .

iii. خپل ځان او درانه لوستونکی دسياسی احزابو، ذی نفوذه ډلو او حزب اختلاف په اړه معلومات تر لاسه کړی.

**دموضوع اهميت :**

ننۍ سياسي اوضاع د دې تقاضا کوي چې نه بايد څوک تنها او يوازی پاتې شي ښه به وي که يوڅوک ترشا او يو ملاتړي ولري او ديو چاسره خپل فکر شريک کړي ، د دې ترڅنګ هغه امورات او کړنې چې په جمعې ډول او د ډېرو فکرونو زيږنده وي حتمًا به څو چنده ترهغو بهترې وي چې په يوازيتوب او تنهايي سره ترسره کېږي ، داچې حزبونه دخلکو سره سر اوکار لري اوخلک هم دګوندونو په اساس کولاي شي چې دخپلوحقوقوبرخمن شي همدغه سياسي ګوندونه دي چې دحکومت توجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخلکو خواته را اړوي پس  په حقیقت کې همدغه ګوندونه د خلکو او حکومت ترمنځ دیوپُل حیثیت لري  او کله چې ګوندونه دخلکو دحقوقو څخه حمایت کوي په حقیقتت کې ګوندونه خلکو ته دامفکوره هم ورکوي چې دوي یواځې ندي او دحکومت په وړاندې مطلق کمزوري هم ندي.

**پخوانیولیکنو ته منطقي کتنه:**

ددې موضوع په اړوندمخکې هم ځینې لیکنې ، مقالې ، رسالې او مونوګرافونه لیکل شویدی او هم په افغانستان کې ډول ډول په مختلفو فکرونو،سیاسي ډلې ،سیاسي احزاب او ذي نفوذه ډلې په پراخه کچه شتون لري ، مختلف سیاسی فعالیتونه کوی ، د خپلو موخو د پوره کیدا لپاره ډول ډول کړنلارې او تګلارې وضع او وړاندې کوی، مختلفې برنامی او لیکنې خپروې ،چې سیاسی احزاب په مختلفو شکلونو را پېژني خو ما دلته دخپل اړوند پوهنځی څخه دفراغت دمنلو په موخه خپل ټاکل شوی مونوګراف (سیاسي احزاب او ذي نفوذه ډلې ) دلنډې پېژندنې ارزښت او ګټو په اړوند دمونوګراف په کچه وړاندې کړ.

**دموضوع  اړوند پوښتنې :**

ددی موضوع اړوند کلیدي پوښتنې په لاندې ډول دی .

1- سیاسي احزاب کوم او څه فعالیتونه سرته رسوي ؟

2- سیاسي احزاب او ذي نفوذه ډلې دحکومت او سیاست په جوړښت کې څه نقش لری ؟

3- په افغانستان کې سیاسي احزاب ګټې لری او که زیانونه ؟

4- ذي نفوذ ډلې کومې دي او کوم کارونه کوی ؟

5- سیاسي احزاب او ذي نفوذه ډلې خپلو کې څه توپیر لری؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دموضوع دليكلو تګلاره :**

ددی موضوموډليکنې تګلاره کتابتوني ده يعنې دموضوع اړوند معلومات، اطلاعات مو دکتابونو اوبعضې موضوعګانې مې د انټرنيټ څخه دڅېړنې داصولو سره سم را اخيستې دی او ځای پرځای کړې مې دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل

## لومړی مبحث ـ دسیاسي حزب پېژندنه :

دانګلیسي ژبې Party یا دفرانسې دParti لغت چې دPartir مصدر دي دتللو او برخې په مانا دي چې معادل یې په فارسي کې حزب او په پښتو کې ګوند دي.

په سیاسي ادبیاتوکې دتاریخ په لحاظ همدغه لغات دطبقې په مانا هم تعبیرشوي، په قرون اوسطي کې Parti په نظامي مفهوم استعمالېده اود 19قرن په اوږدوکې د Parti لغت دفکر دځرنګوالي سره مترادف وو.

دسیاسي احزابو لپاره یولړتعریفونه شوي دي چې مونږ یې دلته یو څو دنمونې په ډول ذکر کوو.

1: **ارموند بورګ سیاسي حزب دارنګه تعریفوي:** سیاسي حزب دخلکو هئیت دي چې دملي منافعودساتنې لپاره دمشترک کوشش په وجه دبعضې سیاسي اصولو دتوافق په اساس سره یوځاي شوي وي.

2**: دګتل له نظره دسیاسي حزب تعریف:** سیاسي حزب د زیاتو او کمو خلکو څخه ترکېب شوي چې دیوسیاسي واحد په نوم عمل کوي او د رائې ورکولو دحق څخه په استفادې سره غواړي چې په حکومت باندې سلطه پیداکړي او خپل عمومي سیاستونه پرې عملي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**3: دجيل کرست له نظره :** سياسي حزب دخلکو يوه منظمه ډله ده چې دمشترکو سياسي نظرياتو لرونکې وي او ديو سياسي منزلت او مقام دلاسته راوړلو لپاره هڅه او کوشش کوي.[2]

**4: بنجامين کنستان يې بيا دارنګه تعريفوي:** د داسې خلکو يوځاي کېدل چې ديوشان نظرياتو ملاتړ وي له حزب څخه عبارت دي.

همدارنګه دافغانستان د1388هـ ش کال دسياسي ګوندونو قانون دوهمه ماده سياسي ګوند دارنګه تعريفوي.(د دغه قانون په مفهوم سياسي ګوند دحقيقي اشخاصو سازمان شوې ټولنه ده چې د دې قانون او اړوندې اساسنامې له حکمونو سره سم سياسي موخوته په ملي او سيمه ييزه سطحه فعاليت کوي) اويا هم سياسي ګوند دارنګه تعريف کوو ، چې سياسي ګوند دخلکو يوه منظمه ډله ده چې پرحکومت دفشار راوړلو له کبله دملي منافعو ساتنه کوي او پرخلکو خپل نظريات او عقايد تطبيق کوي او د دې ترڅنګ دقدرت ګدئ دلاسته راوړلو لپاره هڅه او کوشش کوي.

ځينې محققان ديوحزب دتشکېل لپاره بعضې شرطونه لازمي بولي چې دهغوي له ډلې څخه جوزوف لاپالومبارو او مايرون وينز دحزب دتشکېل لپاره دغه څلور شرطونه لازم ګڼي.

۱: د دايمي مزکزي تشکېلاتو لرل ۲: دڅانګو لرل چې دمرکز سره دايمي ارتباط ولري ۳: دخلکو ملاتړ ۴: دسياسي قدرت دلاسته راوړلو لپاره هلې ځلې.[3]

---

[2]: عالم،عبدالرحمن .( ۱۳۷۳ش هـ ). بنيادهاي علم سياست، نشر تهران
[3]: بشريه،حسين.(۱۳۷۰ش هـ ). اموزش دانش سياسي، نشر نګاه معاصر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دويم مبحث- د سياسي حزبونو دپيداکېدو په هکله مختلف نظريات:

دحزبونو دپيداکېدو په هکله دوه عمده نظرې وجود لري چې يوه يې نهادي بله يې تاريخي ـ نزاعي نظريه ده چې دواړه به يې تر مطالعې لاندې ونيسو.

**۱جز: نهادي نظريه :**

موريس او ورژه دسياسي حزبونو دقوت او په خلکو کې دزيات محبوبيت دلاس ته راوړلو لپاره اصلي علت دنوي حزبونو دجوړښت نظم او ترتيب ګڼي. دي وايي چې دحزب په معرفت او پېژندګلوۍ کې دهغه د اعضاؤ يابرنامو څخه دحزب جوړښت څوچنده مهم دي چې دغه جوړښت دپارلمان دپراخوالي سره نژدې رابطه لري او هغه هم په خپلو عمومي رايوباندي متکې وي هرڅومره چې درائي حق پراخوالي پيدا کوي په همغه اندازه درائي ورکوونکو دترتيب او تجهيز ضرورت هم زياتيږي له دې ځايه ده چې دحزبونوپيدايښت دپارلماني ډلواو انتخاباتي کمېټو پيدايښت پورې تړلي دي په عين حال کې داسې حزبونه هم وجود لري چې د دې حلقو څخه دباندې تؤلد شوي وي په همدې دليل دو ورژه دنوي حزبونو دپيداکېدولپاره دوه ډوله منشاء ذکرکوي يوه يې پارلماني او بله يې خارجي منشاء ده.اوله منشاء دپارلماني ډلو او انتخاباتي کمېټو د اتفاق څخه رامنځ ته کېږي.

د دغه دوه عناصرو دايمي ارتباط او هماهنګي چې مورني سلولونو په نوم هم ياديږي په طبعي توګه صورت نيسي چې دموجوده نماينده ګانو دسياسي قدرت دتحفظ له تمايل څخه لرې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خارجي منشاء په هغه حزبونو پورې تړاو لري چې دهغوي لومړنۍ هسته او وجود په اول کې د افکارو په جمع والي،په عمومي اوسېدن ځايونو او حتي ديوې ورځپاڼې دطرفدارانوپه توګه رامنځ ته کېږي.

لکه څرنګه چې اکثره دکارګرو احزاب دصنفي اتحاديې په شکل رامنځ ته شوي دي چې دهغوي له ډلې څخه دانګلستان دکارګرحزب چې ديو انجمن په توګه رامنځ ته شوي دي په همدې توګه دو ورژه واي چې که يوحزب په هرصورت تأسيس شي دخلکو ملاتړ ته بې نهايته ضرورت لري.

ديمون آرون هم دحزبونو دمنځ ته راتګ لپاره دوه منشاء وې ذکر کوي کومې چې مخکې ذکر شوې ولې نومورړي په دريمه نړۍ کې ديوګوني حزب د منځ ته راتګ لپاره دوهمه منشاء بېخ او بنياد ګڼي ځکه چې د دغه ډولو احزابو ارتباط دپارلمان او خلکو د رائې سره له اوله قطع شوي وي.

يوبل عالم دانيل لوي سلرپخپل کتاب(تطبيقي سياست) کې بيا د احزابو منځ ته راتګ په دربو کټګوريوتقسيم کوي( پارلماني،رياستي او خارجي)

**۲جز: تاريخي ـ نزاعي نظريه :**

دغه نظريه دلاپالمبارا او واينر برعکس ده او دماکس وبر،رکا او ليپست له نظرياتو سره هماهنګي لري.

د وبر له نظره دسياست اصلي موضوع "سلطه" ده او دي حزب هم له همدې نظره تعريفوي نومړی زياتوي چې(حزب دسلطې او امتيازاتو دلاسته راوړولو وسيله ده) په نتيجه کې دي واي چې حزب يوه پخوانۍ پديده ده چې په مختلفو شکلونو سره پيداشوي دي چې دنمونې په ډول په قرون اولي کې دګلف "Guelfes" او ژيبلن "Gibelins" څخه يادونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چې او دغه ډله دپاپ دقدرت طرفداران او دوهمه ډله(ژيبلن) يې دامپراطورانو طرفداران و.

د وبر له نظره دپروني او نني حزبونوترمنځ کوم فرق نشته دي واي چې نني حزبونه دمخکينو حزبونوتطبيقي شکل دي چې ځانونه يې د ديموکراسي،انتخاباتو،عقلانيت او مدرنيت د ټولو اجزاو سره يې ځان برابر کړي دي، هغه څه چې ثابت پاتې کېږي هغه دسلطې مفهوم دي چې دهغې شکلونو تغير کړي او دځان لپاره يې نوي قالبونه اختيار کړي دي.

د رکان او ليپست له نظره هم نوي سياسي حزبونه دپخوانيواحزابو يو متحول او منظم شکل دي.دغه ليکوالان د اروپا دنوي تاريخ لاملونه دوه عمده انقلابونه ګڼي چې يو يې ملي اوبل يې صنعتي انقلاب دي. چې ملي انقلاب له يو پلوه دولت او کليسا او له بل پلوه مرکزي او خواو شافرهنګ يې سره په مقابله کې اچول اوهمدارنګه صنعتي انقلاب هم له يوپلوه ښاري او اطرافي او له بل پلوه کارګر او کارفرما سر مخ کول.[4]

د دې نزاع دطرفينو څخه به چې هريو دمقابلې په جريان کې له منځه لاړ پاتې شوي بل يو به يې دحزب په شکل حضور وکړ.

دايټاليا پوهنتون استاد آنجلوپان ابليانکو هم دتاريخي ټولنيېژندندې دتاثيرلاندې په دې عقيده دي چې هر حزب خپل خاص اوځانګړي تاريخ او همدارنګه خپلو افرادو پورې مربوطې ژنتيک نښانې لري. دهر حزب دژنتيک نښانو او نمونو دپېژندلو لپاره لازمه ده چې څو عمده خبروته توجه وشي

[4]: مايکل راسکين رابرت کورډ و جيمز ميډيوريس او والټر جونز.(۱۹۸۹م ). پوليټيکل ساينس ژباړه او لنډيز، ډاکټر محمد صديق ظهير،علامه رشاد خپرندويه ټولنه کندهار۵۶مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱: دحزب جوړښت او پراخوالي ۲ ديوخارجي نهاد شتون ياعدم شتون والي چې وغواړي له حزب څخه دځان دمشروعيت په اړه استفاده وکړي ۳: دحزب په پيداښت کې دبنياد ګذارانو رول لکه بعضې چې دموسوليني دو ګل اويا ادنائر او ياهم ګاسپري دنفوذ لاندې رامنځ ته شول پس له دې ځايه ده چې نشو کولاي چې داحزابو لپاره يوثابته يا يوشان منشاء په اړه تصور وکړو. بلکې داحزابو دپيدايښت پرمختګ او تحول لپاره متعدد او متنوع شکلونه قبول کړای شي.

## دريم مبحث- دسياسي حزبونو خصوصيات:

سياسي حزب بايد حتمًا ديولړخصوصياتو لرونکې وي داسې به هم نه وي چې يو يادوه نفره دې راپورته شي او دګوند په نوم دې سياسي ژوند پرمخ بوځي او تر پايه دې همدا دوه نفره وي بلکې هرسياسي ګوند چې رامنځ ته کېږي حتمًا به يولړ ځانګړي خصوصيات لري چې ځينې يې مونږ دنمونې په ډول دلته بيانو.

**۱جز: دخلکو ډله:** سياسي ګوند دخلکو داسې ډله ده چې هغوي دهيواد په ټولومربطه مسأيلو کې(سياسي،اقتصادي،اجتماعي) سره يوشان فکر لري. کېداي شي چې د دوي ترمنځ معمولي اختلافات شتون ولري خوبياهم په عموم کې يو فکر لري او ديوې رأي لرونکو خلکو ډله وي.

**۲جز: دقدرت لاسته راوړنه:** دسياسي ګوندونو يوخاصيت داهم وي چې دقدرت دلاسته راوړنې لپاره هلې ځلې کوي او حکومتي نظام وچلوي او د دې ترڅنګ په عوامو کې دمحبوبيت دلاسته راوړنې لپاره بې نهايته کوشش کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳جز: ځانګړي(خاص) نظريات:** هر سياسي ګوند خپل ځانګړي نظريات او اصول لري چې هغه دعوامو ستونزې اومشکلات دځان سره ياداشت کوي او دهغو لپاره دحل لارې پيداکوي ترڅو دعوامو ملاتړ حاصل کړي او سياسي اقتدار ته ځان ورسوي

**۴جز:اساسي تنظيم:** هر سياسي حزب داسې پدې ترتيب منظم شوي وي ترڅو دهيواد ټول وګړي ځان ته راجلب کړي د دې جلب کولو لپاره يوسياسي ګوند په داخل کې مختلفې څانګې او شعبې رامنځ ته کوي مثلاً دتبليغاتو شعبه،عواموسره دمرستې شعبه او داسې نورې . . . . . .
لازمه ده چې ديو سياسي ګوند څانګې دهيواد په ګوټ ګوټ کې وي او په هر کلي او کور کې ځان څرګند کې او همدارنګه دسياسي ګوند دزيات شهرت او پېژندنې لپاره ګوند په تبليغاتو او پروپاګندا باندې بې نهايته زور اچوي

**۵جز دخپلې خوښې عضويت:** دسياسي ګوندونو دخصيتونوڅخه يو خاصيت داهم دي چې په دې ګوندوکې ديوچاغړيتوب په خپله خوښه ده اشخاص هروخت کولاي شي دګوندغړيتوب له لاسه ورکړي هيڅوک يې دغړيتوب دترک ممانعت نشي کولاي

**۶جز دقومي ګټوساتنه:** هرسياسي ګوند دقومي ګټو دساتنې اوتحفظ لپاره هلې ځلې کوي او دخپلو سياسي ګټو په نسبت قومي ګټوته ترجيح ورکوي.[5]
بله داچې دهيوادنۍ مينې نه لرونکې دله سياسي ګوند نشي بلل کېداي.

---

[5]: نياز، عبدالوحيد.(۱۳۷۲ش هـ ). حقوق اساسي مقايسه يي، چاپ سوم، انتشارات يوسف زاده

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځلورم مبحث-دسياسي احزابو درامنځ ته کېدو اغراض او مقاصد:

هره سياسی ډله درامنځ ته کېدو سره سم يولړځانګړي مقاصد لري او دهغوي دلاسته راوړلو لپاره هلې ځلې کوي چې دهغوي له جملې ځخه يې مونږ بعضې په لاندې ډول تر بحث لاندې نيسو.

**۱جز: نظرياتي خوځښت(حرکت) :** دبعضوسياسي ډلوتشکېل دنظرياتو په اساس صورت نيسي لکه په اشتراکې هيوادونو کې دکمونيزم رامنځ ته کېدل همدارنګه په جمهوري نظام لرونکو هيوادونوکې هم نظرياتي ډلې رامنځ ته کېږي د دې ترڅنګ په هندوستان، پاکستان، انګلستان، ايټاليااو فرانسي کې هم دخاصو نظرياتو لرونکې سياسي ډلې وجودد لري.

**۲جز:اقتصادي حرکت:** په ديموکراتيکو هيوادونو کې سرمايه داره طبقه دخپلو ګټو دساتلو لپاره دخپلو وسايلو په مرسته سياسي ګوندونه جوړوي ، سياستدانانو ته پيسې ورکوي ترڅو په ديموکراتيک حکومت کې يې دهغوئ ګټې ساتلې وي دخپلواجاره دارئ دساتلو يا قايمولو لپاره سرمايدار په سياست کې هم سرمايه ګذاري کوي او مفاد پرستې ډلې حکومت په مسلسل ډول په لاس کې نيسي. کاريګر او زحمت کشه طبقه دخپلو ټولنيزو حقوق دسرمايه دارو ځخه دساتلو لپاره دهغوي په مقابل کې سياسي حزب جوړوي. دسرمايه دار حمايت کوونکې سياسي حزب ته کپيټاليست او دکاريګرو حزب ته ليبرال ويل کېږي.

**۳جز مذهبي حرکتونه:** بعضې سياسي ډلې دخپلو مذهبي مقاصدو دلاسته راوړنې لپاره دسياست ډګرته راداخلېږی لکه په مصر کې داخوان المسلمين سياسي ډله همدارنګه په اندونيزياکې دمسجومي ډله چې دمذهبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفاداتو دحفاظت لپاره رامنځ ته شوې ده همدارنګه په افغانستان، ایران،پاکستان،لبنان او دغه شان نورو هیوادونوکې دمذهبي بنسټونوپه اساس ډلې او تنظیمونه جوړ شوي دي.

**۴جز قومي حرکتونه:** ډېرې سیاسي ډلې شته چې دقوم دګټولپاره جوړې شوې دي هغوی دهیواد دازادۍ دحصول لپاره او له هیواد څخه د دفاع پخاطرکار کوي دنړۍ په ډېرو قومونو کې دهیواد د ازادۍ لپاره کوشش کوونکې ډلې جوړې شوې دي چې هغه دخپلو مقصدونو دحصول نه روسته هم دخپل هیواد دملي ګټوساتنه کوي. په اسیا،جنوبي امریکا او افریقا کې ډېري داسې ګوندونه وجود لري چې د ازادي د حصول لپاره کار کوي.

**۵جز وختي (زماني حرکتونه):** عمومًا په ازاد، خپلواک او دیموکراتیکو هېوادونو کې دوخت دغوښتنو لاندې ګوندونه منځ ته راځي او په فوري توګه قانوني دیموکراتیک او انتخاباتو په اساس دنوي حالاتو مطابق لایحه عملا ترتیب کوي او خپل فعالیتونه جاري ساتي لکه دپاکستان په تېره نیمه پېړۍ کې څو داسې خوځښتونه جوړ شوي دي چې دانتخاباتو څخه روسته بېرته له منځه تللي دي چې دوخت دضرورت له پوره کېدو څخه روسته ضرور نه ګڼل کېږي او له منځه ځي.

## پنځم مبحث- دسیاسي حزبونو ځانګړې دندې:

داچې احزاب د دیموکراسۍ دملاتیر تشکېلوي نوځکه خو دنویو دیموکراتیکو حکومتونو لپاره د احزابو شتون یوضروري امر دي ځرنګه چې په ښې حکومتدارۍ کې د احزابوشتون حتمي دي نو احزاب چې یولړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاص او ځانګړې دندې پرمخ بوځي چې دبال له نظره دحزبونو ځانګړې دنده دسياسي زنده ګي متحد او باثباته کول دي همدارنګه مريام دسياسي ګوندونولپاره پنځه ځانګړې دندې په ګوته کوي ۱:دانتخاباتي نوماندانو انتخاب ۲:دعمومي سياستونوليکل ۳:په حکومت انتقاد کول ۴:سياسي زده کړه ۵:دخلکو او حکومت ترمنځ پل .[6]

**۱جز عامه پالېسي او رأيه:** دنورو دندو تر څنګ دسياسي ګوندونو يوه تر ټولو لويه اومهمه دنده دقدرت دګدۍ لاسته راوړل او اقتدار ته ځان رسول دي او تر بل هر هدف څخه دې هدف ته دځان رسولو لپاره بېحده هڅه او هاند کوي او دې هدف ته درسېدو لاره بيا دعوامو رأيه ده نوځکه خو سياسي ګوندونه هم دعوامو رضايت په خپله پاليسي کې تر بل هر څه نه زيات په نظر کې نيسي او دخپلې پاليسي دتشکېل په وخت کې دعوامو رأيه او د دې ترڅنګ په هيواد دمختلفو فشارګروپونو رؤيې ته په کتو سره دخپلې پالېسي اصول داسې تشکېلوي تر څو يې دعوامو رضايت پکې حاصل کړي وي

**۲جز دانتخاباتومصروفيات:** دکانديدانو دانتخابولو نه وروسته اصلي جنګ شروع کېږي چې دهغې لپاره هر سياسي حزب پوره تياري نيسي بې دريغه پيسې استعمالېږي حتي چې يوعام کس نشي کولاي دانتخاباتو اخراجات په يواځې ځان تحمل کړي خپله کانديدانو ته په انتخاباتو کې پاتې کېدل سختيږي،دانتخاباتو داعلان سره سم هره سياسي ډله دخپلو تبليغاتوسلسله شروع کوي دتحريرونو او تقريرونو په واسطه خلک خپل طرف ته را جزبوي ، عموماً دهرسياسي حزب ترجماني ديو اخبار يا يوې

---

[6]: ملک،فاروق .(۱۳۶۶ش هـ ). ملک،خرم، اصول سياسات، ناشر جديد بک ډپو۸۳مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجلې په شکل صورت نيسي چې دهمدې په واسطه دخلکو ذهنونه خپلې خواته اړه وي، دکتابچو،قلمونو،جنتريانو او اعلانونو په شکل خپل اساسي اصول ترخلکو رسوي.

انتخاباتو ته نژدې هر سياسي حزب دخلکو يو مشکل په نظرکې نيسي او خلکو ته دهغې دحل طريقه وړاندې کوي چې ترڅو دخلکو حمايت لاسته راوړي. دهغه شکل دحل لپاره جدي اقدام کوي.په برطانيه کې د۱۹۲۹ په انتخاباتوکې دبيکاري په مسله باندې لبرل او ليبر حزبونو خپله رايه وړاندې کړه. دانتخاباتو لپاره يولوي پروګرام جوړيږي کلي په کلي ښار په ښار دحزب مشر خلکوته تقريرونه کوي.عموماً هرسياسي حزب خپل حمايت کونکې ګروپونه لري چې دغه حمايت کوونکې ګروپونه د دې سياسي حزب اخراجات پوره کوي.

په برطانيه کې دکنزرحزب دسرمايداروله خواحمايه کېږي هغه ټول اخراجات چې د دې حزب په تبليغ اوجلسومصرف کېږي دسرمايدارودجيب څخه راځي ځکه چې دوی پوهيږي چې د دوي دشخصي ګټو حفاظت په همدې کې دي. [7]

**۳جز حکومت جوړونه:** دانتخاباتو په نتيجه کې چې کوم حزب کامياب شي دهغه حزب مشر دحکومت په تشکېل کې ونډه اخلي. په صدارتي نظام کې خلک په مستقيمه توګه خپل مشر ټاکي خو په پارلماني نظام کې چې کوم حزب زياتې رأيي لاسته راوړي دهغه حزب مشر صدراعظم جوړيږي. که کوم حزب ښکاره اکثريت لاسته رانه وړي نو دوه يا درې حزبونه مخلوط حکومت جوړوي.پدې حزبونوکې چې کوم حزب زيات

---

[7]: آلن ر ، بال .(۱۳۶۹ش هـ ). سياست وحکومت جديد، ژباړن، عبدالرحمن عالم، نشر قوس۳۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مؤثر وي دهغه حزب مشر صدراعظم ټاکل کېږي. اقتدار ته رسېدلي حزب دخپل منشور مطابق حکومتي کارونه پرمخ بوځي او دخلکو دخوښي مطابق حکومتي نطام چلوي ترڅو چې د اکثریت حمایت ورسره وي په اقتدارباقي او کله چې داکثریت حمایت دلاسه ورکړي اقتدار به پرېږدي.

**۴جز دحزب اختلاف قیام:** که کوم حزب کامیاب شي دحکومت په تشکېل کې ونډه اخلي دنه کامیابېدو په صورت کې هغه خپلو کارونو ته بیاهم دوام ورکوي او دحزب اختلاف(مخالف حزب) ترنوم لاندې خپل کارونه پرمخ بوځي په پارلمان کې حزب اختلاف یومشر انتخابوي چې دهغه دحکومت په کړنو باندې نیوه کې کوي او دحکومت خامیانې په ګوته کوي. حزب اختلاف خپل خاص رول لري خلک دحکومت دغلطیو څخه خبروي او دخلکو ذهنونه خپل طرف ته د را اړولو لپاره بار بار کوششونه کوي. دیو صحیح او فعال جمهوریت لپاره یوقوي حزب اختلاف ډېر ضروري دي . یوفلسفي واي چې په یو هیواد کې دجمهوریت دتللو او وزن کولو لپاره یوقوي مخالف حزب ترټولو ښه تله او پیمانه کېداي شي. حزب اختلاف چې څومره خپلو کارونو ته زور ورکوي جمهوریت هغومره ورسره ځان قوي کوي.[8]

**۵جز دخلکو او حکومت ترمنځ پُل:** داچې حزبونه دخلکو سره سر اوکار لري اوخلک هم دګوندونو په اساس کولاي شي چې دخپلوحقوقوبرخمن شي همدغه سیاسي ګوندونه دي چې دحکومت توجه دخلکو خواته را اړوي پس په حقیقت کې همدغه ګوندونه د خلکو او حکومت ترمنځ دیوپُل حیثیت لري او کله چې ګوندونه دخلکو دحقوقو څخه حمایت کوي په

---

8: نقیب زاده، احمد.(۱۳۸۸ل). احزاب سیاسي وګروه هاي ذي نفوذ، نشرقوس .۵۶مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقتت کې ګوندونه خلکو ته دامفکوره هم ورکوي چې دوي يواځې ندي او دحکومت په وړاندې مطلق کمزوري هم ندي.

**۶جز دسیاست اجتماعي کول:** دګوندونو دخصوصیاتوڅخه يو هم دادي چې دټولني بې‌لابېلي ډلې سره يوځاي کوي نه يواځې دا چې دغه ډلې سره يوځاي کوي بلکې هغوي ته سیاسي لوبه هم ور زده کوي ګوندونه خپلوغړوته دا ورښايي چې دخلکو په وړاندې څنګه وينا وکړي همدارنګه ګوندونه خلک کانديدانوته ورپېژني او همدارنګه غړوته ديوې غونډې اداره کول او د دې ترڅنګ د روغې جوړې او مصالحې لارې چارې هم ورښايي له همدې ځايه ده چې ګوندونه دخپلوغړو وړتيا پياوړې کوي اوخپل اعضاء سیاست ته داخلوي او ورځني سیاست نه دا چې ديوڅوکسانو په لاس کې پاتي شي بلکې سیاست ته يوه اجتماعي اوټولنيزه بڼه ورکوي او دخولاسونو څخه يې باسي.

## شپږم مبحث- دسیاسي حزبونو طبقه بندي:

سیاسي احزاب کولاي شو په څلورو برخو طبقه بندي کړو چې هر يو يې په جدا توګه ترڅېړني لاندې نيسو.

**۱: دسیاسي احزابو طبقه بندي دپروګرام له حيثه:** دپروګرام له مخې سیاسي ګوندونه په ښي لاسي،چپ لاسي او منځنی ګوندونو باندې وېشل شوي دي د دې طبقه بندي ايجاد په فرانسه کې شوي دي اوهغه خلک چې په پارلمان کې به ښې لاس ته کېناستل ښي لاسي او هغه چې به چپ لاست ته کېناستل چپ لاسي به يي ورته ويل دښي لاس او چپ لاس لپاره کوم ځانګړي تعريف نشته بلکې دهيواد اوضاع ته په کتو کولاي شو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعریف یي کړو مثلًا کېدای شي چې په یو هېواد کې ښي لاسي ګوندونه په بل هېواد کې چپ لاسي وي. [9]
په یو وخت کې چپ لاسي ګوندونه هغو ډلو ته ویل کېدل چې هغوئ غوښتل چې په مملکت کې سیاسي او بنیادي تغیر رامنځ ته شي او ښي لاسي ګوندونه هغو ته ویل کېدل چې په خپل هیواد کې یي دپخواني نظام حمایت کولو. د دوهم نړیوال جنګ څخه وروسته چې کله دوه بلاکه رامنځ ته شول یو یې شرقي اوبل یې غربي بلاک و غربي بلاک غوښتل چې سرمایداري نظام رامنځ ته کړي او شرقي بلاک غوښتل چې سوسیالیستي بلاک رامنځ ته کړي د دوو نظریو خاوندان و دسوسیالیستي نظریو خاوندانو ته به چپ لاسي ویل کېده او امپریالیزم نظرخاوندانوته به ئې ښي لاسي ویل. همدارنګه د دین او مذهب له لحاظه هغه خلک چې ددین اومذهب پیروي کوي ښي لاسي او هغه چې دسیکولر پیروي کوي چپ لاسي بلل کېږي .
**۲: دسیاسي حزبونو طبقه بندي دنظم له حیثه:** دنظم له حیثه بعضې داسې ګوندونه دي چې په هغه کې خلک په زیاته اندازه برخه اخلي چې دې ته عوامي ګوندونه هم واي.که څوک غواړي په دغه ګوندونو کې غړیتوب ترلاسه کړي دټولنې خلک پرې اعتراض نه کوي. د داسې ګوندونو دغړو تعداد زیات وي هرڅوک کولاي شي پرته له کومو موانعو نه ئې غړیتوب ترلاسه کړي او بل داسې ګوندونه دي چې دغړو تعداد یې لږ وي که څوک غواړي په ګوندونو کې برخه واخلي نو خاص شرایط

---

[9]: نقیب زاده، احمد.(۱۳۸۸ل). احزاب سیاسي وګروه هاي ذي نفوذ،نشرقوس .۵۶مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري بايده هغه شرايط پوره کړي چې په دې اړه بايد دوه مهمي نقطې په نظرکې ونيول شي.

۱: د داسې ګوندونو سره يوه خاصه نظريه(ايډيالوجي) موجوده وي هغه څوک چې غواړي غړيتوب يې ترلاسه کړي دغړيتوب دترلاسه کولو په وخت کې ګوري چې دګوند د ايډيالوجي سره موافقه لري کنه.

۲: هغه څوک چې غواړي پدې ګوند کې غړيتوب ولري نو دوئ ګوري چې د دې ګوند نظم او دسپلين قبلوي کنه د دغه ګوندونو ګټې دادي چې ديوي خوا دشخص اړيکه دګوند سره ټينګوي او دګوند دنظرياتو او اهدافو دلاسته را وړلو کوشش کوي او پدې ګوندو کې نظم او ډسپلين ډېروي نيمګړتيا يې داده چې دغړو ساحه يې محدوده وي او اکثرا وختونو کې په انتخاباتو کې يې کرسۍ(چوکۍ) کمې وي غوره نمونې يې دکمونست ګوندونه دي.

مثال که دچېن په کمونيستي ګوندوکې هغه څوک چې عمريې له ۷ څخه تر ۱۴ کلونو پورې وي او غواړي چې د دې ګوند غړيتوب ترلاسه کړي نو پيش آهنګ جوانان ته يې معرفي کوي او د۱۵ څخه تر ۳۵ کلونو عمر لرونکې خلک دځوانانو دحزب بخش ته معرفي کوي چې دکمونيستي ځوانانو د اتحادئي په نوم ياديږي او کله چې يې عمر زياتيږي نو بيا کامل عضويت ترلاسه کوي خو بيا هم دوه نفره د دې ګوند غړي بايد د ده تضمين وکړي او له دې نه وروسته دګوند غړي جوړيږي او بيا په سياسي فعاليتونوکې برخه اخيستي شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳: دسیاسي احزابو طبقه بندي دکاري ساحې له حیثه:** بعضې داسې ګوندونه دي چې دمملکت په سطحه کارونه اجرا کوي کاري ساحه یې ټول هیواد وي چې په منظم ډول خپل کارونه پرمخ بیایي او د دوی منشور او اساسنامه په ملي سطحه رامنځ ته کېږي او بعضې داسې ګوندونه دي چې دیوې منطقې لپاره کار کوي منطقوي نغارې ډنګوي او داسې ګوندونه په هماغه منطقه کې زیات محبوبیت لري د دې ترڅنګ جهانشموله احزاب هم شته که څه هم منشوریې یواځې په رامنځ ته کېدونکې هیواد کې رسمیت لري خو تاثیرات یې دومره پراخه وي چې دنړۍ په زیاتو هیوادونو کې دې ته ورته ګوندونه رامنځ ته کېږي او له دې ګوندونو څخه سرچېنه نیسي چې ښه نمونه یې د مصر اخوان المسلمین ګوند دي چې دنړۍ په ۷۴ هیوادونو کې څانګې لري.[10]

**۴: دسیاسي ګوندونو طبقه بندي په حکومت کې دګډون له حیثه:**

سیاسي احزاب په حکومت کې دګډون له حیثه په دریو برخو ویشو

۱: یو ګوندي سیستم ۲: دوه ګوندي سیستم ۳: څو ګوندي سیستم.

چې دادرې واړه سیستمونه به په راتلونکې فصل کې په مکمل ډول تشریح شي.

[10]: بویکو،ولادیمر.(۱۹۹۳م ). دولت و اپوزیسیون در افغانستان،ژباړن عزیز اریانفر،بنګاه انتشارات میوند،کابل .۸۷مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۷بحث: دسیاسي احزابو ګټي او نواقص:

### لومړی جز- دسیاسي داحزابو ګټې:

**۱- دعامه نظررامنځ ته کول :** ګوند ولس ته دهیواد دمسایلو او وسایلو په هکله خبرورکوي او هغوی خبروي چې دمسایلو حل څه شی ده او وسایل باید په کومه طریقه استعمال او په کار واچول شي هغوی په مختلفو دلایلو سره عامه نظررامنځ ته کوي او دعامه نظر درامنځ ته کولو لپاره دمختلفو لارو څخه رادیو ، تلویزیون او اخبار څخه استفاده کوي دهیواد په مختلفوسیموکې دجلسو اومظاهرو په ذریعه سیاسي احزاب خلک دنوي معلوماتو څخه خبروي او عامه نظرخواهي رامنځ ته کیږي .

**۲- سیاسي روزنه :** سیاسي ګوندونه ولس دملکې مسایلو څخه خبروي او هغوی ته اصلي حقایق بیانوي دوی په خلکوکې دانتقادکولو احساس پیداکوي هغوی دخپلو فردي او ذاتي حقوقو او وجایبو څخه خبروي همدارنګه داساسي حقوقو دترلاسه کولو لپاره طریقي ور زده کوی چې په دې ډول دخلکو سیاسي روزنه او پالنه کیږي ګوندونه ملت دحکومتي اموراتو ، قانون جوړونې ، انتخاباتو باندې دانتقادکولو او دهغې طریقې ورته روښانه کوي په دې اساس ملت ته رایه ورکول ، دټاکنو اوکامیابی داصولوڅخه خبرتیا حاصلیږي . [11]

**۳- د خلکو حکومت :** موجوده او حاضر وخت د خلکو دور دی هر فرد په یوطریقه نه په یو طرقه د حکومت بازو دی ګوندونه د خلکو سره د خلکو د حکومت په جوړولو کی مرسته او کومک کوی خلک د خپلی خو

---

[11]: نقیب زاده، احمد.(۱۳۸۸ل). احزاب سیاسي وګروه هاي ذي نفوذ، نشرقوس .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښې نماينده په خپله ټاکي او يو جمهوري حکومت جوړوي په مرکزي حکومت کې خپله شامليږي نو په دې ډول په مرکزي سطحه د خلکو حکومت په پښو ودريږي .

**٤- مخالف ګوند :** د سياسي ګوندونو په وجه معقول او متناسب جز پيدا کړي ، د واکمن يا په قدرت حزب پر پاليسيو باندې انتقاد کوي او خلکو لپاره د بهتره او غوره ترقي په برخه کې مدد ګار ثابتيږي . او عامه ذهنونه ويښوي ، حکومت د غلطو کارونو څخه را ګرځوي او مخنيوي يې کېږي . که چېرې حکومت بيا هم سيده او سم نه شو نو د ملت سره لاس ورکوي او د حکومت تخته را پرځوي . په پارلمان کې د صدر اعظم پر خلاف د عدم اعتماد رايه ورکوي او په نتيجه کې حکومت رخصتوي .

**٥- غوره قيادت :** هر ګوند په ټاکنو او انتخاباتو کې تر ډيره حده کوښښ کوي چه يو بهترين شخص نامزد کړي تر څو وکولی شي په ډيره اندازه رايې تر لاسه کړي په دې ډول ښه او د اهل اشخاص منتخب کېږي او يو غوره قيادت او رهبري را مينځته کېږي . افرادو ته د خپلو رايو د ښکاره کولو او ظاهرولو موقع او چانس په لاس ورځي . کوم خلک چه د بهتره انتخاب او استعداد درلودونکي وي خلک او ګوندونه هغوي د مشر په توګه انتخابوي او ټاکي يې . بلکه په ځينو وختونو کې هغه د خپل لياقت او استعداد پربنا خود بخوده مشر جوړيږي .

**٦- يوالي او همکاري :** سياسي ګوندونه د خپلو کارکونکو په مينځ کې يووالي او همکاري راپيدا کوي او همدارنګه څو ګوندونه سره يو ځای کېږي يووالي او همکاري رامنځته کوي چه په دې ډول په ټولو کارکونکو کې ترتيب او نظم پيدا کېږي .دګوندونو پر اساس خلک مختلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظرونه اختیاروی،که چېری ګوندونه اتحاد وکړی نو خلک هم د یووالی سوچ پیدا کوی ، نو ګوندونه دی چه په خلکو کی یووالی اوسیاسی پوهه راپیدا کوی چې په دی ډول دخلکودنظم سبب ګرځی.[12]

**۷- مسؤلیت :** کله چی یو ګوند قدرت ته ورسیږی نو دا ورته معلومیږی که چېری دوی خپل مسؤلیتونه پوره نه کړی نو په راتلونکو ټاکنو کی دوی رایی نشی تر لاسه کولی . د دی لپاره هغوی خپل کارونه په پوره مسؤلیت سرته رسولو کی پوره کوښښ کوی .

۸- قوی حکومت : قدرت لرونکی ګوند همیشه د ملت د حمایت څخه برخمن وی .ځکه چه هغه دملت دطاقت په واسطه دقدرت ګټونکی شمیرل کېږی ،ددی لپاره دهیڅ یو انقلاب او پاڅون خطر نه احساسیږی نو پدی اساس هغه یو قوی حکومت دی .

**۹- بشرغوښتنه :**مخالفت دبشرفطری غوښتنه ده سیاسي ګوندونه دا غوښتنه پوره کوی .خلک په مختلفو ګوندونو کی شاملیږی او خپل اختلافی مسایل بیانوی هر ګوند د ګوندی مفادافتو او ګټو لپاره کار کوی .

## دوهم جز: دسیاسي داحزابو تاوانونه:

**۱- نادرسته وفاداری :** د هر ګوند کارکونکی د خپل ګوند د غلطی یا صحیح خبری څخه دفاع کوی او د نورو ګوندونو کارونه غلط ثابتوی د دی ډول فکر په وجه په زینو وختونو کی ډیری ملی ګټی د شخصی ګټو قربانی کوی .

---

[12]: نیاز، عبدالوحید.(۱۳۷۲ش هـ ).حقوق اساسي مقایسه يي، چاپ سوم، انتشارات یوسف زاده۷۷مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲- دملی یووالی خاتمه :** د خلکو په منځ کی مختلفی مخالفی سیاسی ډلی جوړیږی تر یوځو بل ته د شکست په ورکولو کی همیشه اماده وی . په دی ډول سره په هیواد کی نفرت ا و تفریق ،هرج او مرج پیداکیږی او حتی د کورنیو جګړو سبب ګرځی .

**۳- د نظر د ازادی نقصان:** د هر ګوند نماینده خپل د ګوند په هره معامله کی دفاع کوی البته دا دهغه مجبوری ده هغه د دی خبری خلاف او په مخالفت کی نه واقع کیږی دا ځکه چه دا د هغوی مجبوری ده نو په دی اساس ویلی شو چی د نظر آزادی ختمیږی .[13]

**٤- اخلاقی کمزورتیا:** هر ګوند بل ګوند ته د شکست ورکولو لپاره د بیلابلو لارو او طریقو څخه استفاده کوی چی په دی کی رشوت ، لالچ ، بي ایمانی او نور شامل د دی سره د خلکو اخلاقی حالت خرابیږی.

**۵- عهده داری :** د سیاسی ګوندونو هر هغه غړی ته وزارت ورکول کیږی کوم چه د ځان سره یو تعداد افراد او اشخاص لری او هر ګوند دا غواړی چی هغه چا ته وزارت ورکړی کوم چی د ځان سره یوه ډله خلک لری کیدی شي هغه اهل د کار وی او یا نه وی هر غړی دا غواړی چی هغه خپلو پلویانو ته زیاتی چوکی ورکړی تر څو د هغه رایی پخي شی او همدارنګه د دی سره خوش باوری زیاتیږی .

**٦- ناوړه مداخله :** هر واکمن ګوند خپلو کارکونکو ته په ناوړه ډول مفادات ورکوی او په انتظامیه کی بی ځایه مداخله کوی د ځنو کارکونکو

[13]: شینواري،بشارت الله.(۱۳۹۴ل ).عمومي اساسي حقوق، ننګرهار پوهنتون دحقوقو اوسیاسي علوموپوهنځی .۹۴مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوبنتنی پوره کوی سیاسی گوند خپلو کارکونکو ته بیلابیل جوازونه ، د ذخایرو دندی او کمپنی ورکوی .

**۷ـ مفادات یا گټی :** سیاسی گوندونه چی قدرت ته ورسیږی د هغه خلکو د گټو لپاره کار کوی کوم چی په ټاکنواو یا د ټاکنو په دوران کی یی د هغوی مرسته کړی وی . او همدارنگه د ملی گټو پر ځای شخصی گټو ته ترجح ورکوی څرنگه چی د نور ملت په تاوان تمامیږی .

**۸ـ زیات مصارف :** سیاسی گوندونه او حکومت د ټاکنو پر وخت لوی مصارف کوی تر څو په راتلونکی کی حکومت جوړ کړی . سیاسی گوندونه په کروړونو روپی په اشتهاراتو ، د رایو په اخیستلو ( په پیسو باندی د رایو رانیول ) ، غونډو ، رشوت او دوکی لپاره مصرفوی . څرنگه چی د غریبو هیوادونو لپاره ممکن نه دی .

**۹ـ گمراهی :** ځینی وختونو کی سیاسی گوندونه خلکو ته غلط معلومات ورکوی نو هغوی گمراه کوی د خپلو شخصی گټو لپاره یی استعمالوی مثلاً په ۱۹۷۰ م کال په ټاکنو کی په شرقی پاکستان کی عوامی لیگ خلگو ته غلط او نادرست معلومات ورکړل او هغوی یی گمراه کړل نو په دی اساس شرقی پاکستان ( بنگله دیش ) رامنځته شو.[14] ( ۲ – ص ، ۲۳۹ – ۲٤۳)

## ۸بحث: دسیاسي احزابو اهمیت:

سیاسي حزبونه په یو جمهوریت کې دبنیادي ستنو په شان رول لوبوي دجهوریت نوي نماینده گان د دې تقاضا کوي چې زیاتې ابادي مستقیما

[14]: بشریه ،حسین. (۱۳۷۰ش هـ ). اموزش دانش سیاسي، نشر نگاه معاصر.مخ ۲۳۹-۲۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون جوړونه نشي کولاي ، دنماينده ګانو غوره کول،دپارلمان تشکېل،حکومت جوړونه او دهمدې قسم نور سياسي کارونه پرمخ نشي تللاي که سياسي حزبونه موجود نه وي زيات مشکلات پيدا کېږي همدا سياسي حزبونه خلک دخپل قوم له مهمومسائلو خبره وي او په جمهوريت کې دخپل خاص رول په اړه دوئ ته خبر ورکوي په جمهوريت کې داکثريت حکومت وي او د سياسي حزبونو نه غير د اکثريت درائې او نظريې معلومول ناممکنه ده حزبونه دخلکو په وړاندې دهيواد په مهمو مسلوباندې خپلې خپلې نظريې وړاندې کوي چې دکوم حزب سره دخلکو دمشکلاتو دحل لپاره ښه طريقه موجوده وي هغه حزب دخلکو اعتماد او باور لاسته راوړي او حکومت جوړه ونه کې ونډه اخلي په پارلماني نظام کې حکومت هغه چاته سپارل کېږي دکوم حزب چې په پارلمان کې اکثريت نماينده ګان ولري که دپارلمان دنماينده ګانو انتخابول دحزبونو په بنياد سره نه وي نو نماينده ګانو به خپلواک کانديد په طور پارلمان ته ځان رساو نو دنماينده ګانو په غوره کولوکې به ډير ځنډ کېده د وزير اعظم د انتخابولو تر دې سېوا بله دحل لاره نلري چې دپارلمان انتخابات دحزبونو په بنياد تر سره شي او داکثريت حزب والا مشر وزير اعظم مقرر شي.

دسياسي حزبونو داهميت په باره کې بعضې ليکوالان داسې وايې :

**Lowell** وايي دسياسي حزبونو دنه موجوديت په صورت کې دټولنيز حکومت تصور هم نشي کېداي ځکه چې دحکومت اختيارات دخلکو داکثريت په خوښه باندې يوې خاصې ډلې يا حزب ته ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Mac Ivel** وايی دسياسي حزبونو دوجهې په اصولو باندې خلک اتفاق ته رسيږي او پاليسي خپلې اخري درجې او اخري حد او منزل ته ځان رسوي دپارلمان ټول نظام د سياسي حزبونو دپيدابښت څخه روسته پيدا شوي دي که سياسي حزبونه نه واي نو پارلماني نظام او د دې ادرې به هم نه واي دهمدې ادارو په واسطه يو حزب اقتدار ته رسيږي.

خو بعضې ليکوالان سياسي حزبونه دجمهوريت لپاره نقصان بولي لکه روسوواي:

سياسي حزبونو ته هيڅ ضرورت نشته او دخلکو رائي دي مستقيما ظاهري شي خو دسياسي حزبونو دموجوديت په صورت کې عام اختيارات بيا ناممکنه خبره ده بعضې نو رفلاسفه هم سياسي حزبونو والا سيستم نه خوښوي.

د سياسيت پوهانو له ډلې څخه جورج واشنګټن دسياسي حزبونو په خلاف خپله رائيه ورکړي ده او دامريکا خلکوته يې دحزبونودسستم نه دلري اوسيدو فکرورکړی دي هغه په دي باور دي چې دسياسي حزبونو سيستم دعامه او قومي ګټو دساليمت لپاره تاواني او نقصاني دي.

بعضې سياسي حزبونه او اداري دبعضې ناوړو عملونو سره سره هم ډير ضروري او مهم دي د روسو او جورج واشنګټن او داسي نورو خلکو دسياسي حزبونو نه خووښول په خپل ځاي خو دموجوده سياسي نظام دپاره نه صرف دسياسي حزبونو ضرورت ډير زيات ليدل کيږي بلکې دهغوي مؤثر فعاليت هم ډير ضروري دي.

دجمهوريت او سياسي حزبونورابطه دومره نژدي دي چې ورته لازم او ملزوم ويلاي شو او دجمهوريت قيام دسياسي حزبونو په واسطه کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حزبونه هم په جمهوریت کې خپلي سترګي خلاصوي په یو هیواد کې دسیاسي حزبونو وجود د دي خبري هنداره ده چې خلکو ته دخپلي راي ورکولو او متحده اقدام اجازه ورکوي که جمهوریت نه وي او په یو هیواد باندي دیو پاچا امر چلیږي نو خلکوته به یو ځل دخپل نظر موقع ورکول کېده دواړه به همدا کوشش کوي چې په هیوادکې سیاسي کارونه په سمه توګه کنترول کړي په امریت کې صرف یو حزب وي چې د زړه له کومي د خپلو کارونو حمایت کوي مخالفینو ته دظلم او تشدد په واسطه جزا ورکوي. په همدي قسم جمهوریت سیاسي حزبونه منځ ته راوړي . که په جمهوریت کې سیاسي حزبونه نه وي نو داسي اداره به نه واي چې دخلکو له رایو څخه خبر واخلي ، نه به چا دخلکو رهنمایي کوله او نه به ورته دسیاسي تربیي موقع لاسته ورتله، سیاسي حزبونه خلکو کې مختلفي نظریي خپروي کومه رایه چې دخلکو خوښه شي نو اقتدارته رسیدلي حزب په همغو رایو خپله پالیسي په مخ وړي دا یو نفسیاتي او فطري اصل دي چې دتمامو خلکو ذهن په یو طرف باندي متحد نه وي.

دهر شخص خوښه او ناخوښه او دهغه سوچ دنورو څخه مختلف وي هغه مشکلات د خپل نظر له نګاه ګوري کله چې په دي مسلو دڅو نفرو نظریه متفقه شي نو هغه یو ګروپ جوړوي که د دوي سوچ او نظریه په عوامو کې اکثریت پیدا کړي نو اقتدار ته رسیدلي شي دمختلفو ذهنونو او سوچو پر اساس خلک په مختلفو ټولګیو ویشل کېږي دسیاسي لحاظه همدا سم اتحاد سیاسي حزبونه منځته راوړي. په هم نظره خلکو کې اشتراک پیداشي او دخپل قوم دکامیابي لپاره کار کوي د اکثریت په سوچ او فکر کې دیو خاص حزب ګټه په نظر کې نه وي ټولنیز نظام زمونږ دسیاست لپاره جز

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاينفک دي دهغه دقوي تنظيم ډير ضرورت ليدل کېږي. که چېږي دبي تعلقه او بي نظمه سياسي حزبونه جوړ شي چې د اصل پرستي پرځاي موقع پرستي ته ترجيح ورکوي کار کوونکي اشخاص يي مخلص نه وي دجمهوريت دلاري اغزي جوړيږي . دجمهوريت دارمدار په باامنته سياسي حزبونو پوري تړلي دي. دقوي سياسي حزبونو په موجوديت کې قوي سياسي نظام رامنځ ته کېداى شي.[15]

پاکستان کې جنرال ضياءالحق په کال ۱۹۸۵ په غير حزبي ډول انتخابات تر سره کړل چې په مکمله توګه ناکام او نقصاني وو، هر کانديد په خپل ذاتي حيثيت سره په انتخاباتو کې ونډه واخيسته، انتخاباتي مصارفو دکانديدانو ملا ور ماته کړه دسياسي حزبونو په نه موجوديت کې کانديدان د انتخاباتو ټول مصارف پخپله ذمه اخلي ، منتخب شويو کانديدانو په مقننه قوه کې دکانديد وزير اعظم محمد خان جونيجو په حق کې خپل وټونه واچول دکانديدانو دمطمئن کولو لپاره دهغو ښه نوازش وشو بعضو ته يي يو څه مادي شيان هم ور وبښل دسياسي حزبونو دنه موجوديت په صورت کې دحکومت په جوړونه کې زيات مشکلات رامنځ ته شوى همدا وجه وه چې په ۱۹۸۸ کې انتخابات دسياسي حزبونو په بنياد تر سره شول دپاکستان د دي مثال څخه واضح شوه چې د جمهوري ادارو دمناسبي کار کرده ګي لپاره دسياسي حزبونو موجوديت ته اشد ضرورت ليدل کېږي

Parties are inevitable No free country has been without them they bring order out of the chaos of a multitude of the voters.

---

[15]:نقيب زاده، احمد.(۱۳۸۸ل). احزاب سياسي وګروه هاي ذي نفوذ، نشرقوس . ۱۰۵مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم فصل

## حزبي نظامونه:

دنړۍ په مختلفو هيوادونوکې مختلف حزبي نظامونه وجود لري لکه دوه حزبي نظامونه،څوحزبي نظامونه اوهمدارنګه يوحزبي نظام چې هريو يې په خلاصه ډول مطالعه کوو.

مخکې ترهرڅه لازم دي چې لومړي خپله حزبي نظامونه وپېژنو :

دهغو حزبونو مجموعه چې په انتخاباتو کې شراکت کوي،پارلمان ته لار پيدا کوي او حکومت په لاس کې اخلي ديو هيواد حزبي نظام بلل کېږي.

په عموم کې مونږ دوه نوع حزبي نظامونه پېژنو چې يو يې رقابتي حزبي نظامونه او بل يې غيررقابتي حزبي نظامونه دي او د دواړو له جملې څخه تنها رقابتي حزبي نظامونه ديموکراتيک ګڼل کېږي او غير رقابتي او يوحزبه نظام ديموکراتيک نه ګڼل کېږي چې هر يو به يې په دې توګه وڅېړو.

## ۱ مبحث- رقابتي حزبي نظامونه:

پدې نوع نظامونو کې حتمًا داحزابوتعداد ديو څخه زيات وي او همدغه احزاب پخپل منځ کې سره رقابت لري چې په دوه ډوله دي چې يو حزبي او دوه حزبي نظامونه دي.[16]

[16]: شينواري،بشارت الله.(۱۳۹۴ل ). عمومي اساسي حقوق، ننګرهار پوهنتون دحقوقو اوسياسي علومو پوهنځی .۹۹مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱جز: دوه حزبي نظامونه:**

دوه حزبي نظامونه په حقيقت کې ديو څو حزبي نظام څخه عبارت دي چې په دې ډول نظامونو کې دسياسي صحنې اصلي لوبغاړی دوه حزبه وي چې دغه دوه ډوله نظامونه په حقيقت کې په انګلستان کې رامنځ ته شوي دي چې د ويګ او توري بيا ليبرال او محافظه کار او باالاخره کاريګر او محافظه کار احزاب رامنځ ته کيږي په انګلستان کې اول دوه حزبه (محافظه کار او ليبرال دشلم قرن په اوله ربع کې درې ګونې حزبي نظام چې محافظه کار،ليبرال او کاريګر احزابو څخه تشکيل و او باالاخره کاريګر حزب په کامله توګه دليبرال ځاي نيسي او دوه ګوني حزبي نظام رامنځ ته کوي  چې محافظه کار او کاريګر دي نو له همدې کبله دوه حزبي نظام کم او زيات په انګلستان کې رامنځ ته شوي دي په دوه حزبي نظامونو کې دثالث کوچني حزب اويا موقت ايتلاف شتون هم امکان پذيره وي دمثال په ډول دليبرال ګوند تر اوسه هم شتون لري که څه هم دعوامو په مجلس کې کوم اهميت نلري د امريکا په متحده اياالاتوکې ديموکراتان او جمهوري غوښتونکې دوه اصلي حزبونه دي که څه هم بعضې کم اهميته نور کوچني احزاب هم شتون لري د دوه حزبي نظامونو قاطعيت او شفافيت د دې سبب شوي چې اکثره سياست پوهان اوس دوه حزبه  دښي او بهترينې زنده ګي لپاره اصلي لامل ګڼي.

**۲جز-څوحزبي نظامونه:**

هغه نظام ته ويل کيږي چې په هغه کې دسياسي صحنې اصلي لوبغاړي له دوه حزبونو څخه زيات وي په دغه ډول نظامونو کې څو حزبونه له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کبله چې په یواځې ډول هیڅ ګوند نشي کولای چې اکثریت لاس ته راوړي ، نو یو ایتلافي حکومت جوړه وي که څه هم د دا ډول زیاتو احزابو شتون په حقیقت کې د دیموکراسۍ دپلې کولو لپاره ترهرڅه ښه لاره ده ځکه چې دلته رایه ورکونکې د دوه ډلو دفکر پابند نه پاتي کېږي او مجبور ندي چې حتمًا به دیو دفکر سره ځان عیاره وي ، بلکې دلته مختلف ګوندونه چې دمختلفو افکارو لرونکې وي وجود لري او رایه ورکوونکې کېداي شي چې دیو نه یو ګوند دافکارو سره موافقه ولري ولې دسیاسي ثبات له نظره دمتعددو احزابو شتون پخپله یوه منفي نقطه ده دغه ډول نظامونه اکثره په ایټالیا او فرانسه کې وجود لري او هیڅ کله هم په ایټالیا کې دحکومتونو عمر یو کال ته نده رسېدلي دفرانسې په دریم او څلورم جمهوریت کې دحکومتونو عمر دشپږو میاشتو څخه نده زیات شوي په سرعت سره دحکومتونو بدلون دهیواد په اداره کې دتزلزل سبب کېږي او دبې نظمي زمینه مساعده وي.[17]

## ۲مبحث: غیر رقابتي حزبي نظام:

### ۱جز:یو حزبي نظام:

له هغه نظام څخه عبارت دي چې دحکومت ټولې واکې دیو حاکم حزب په لاس کې وي په دغه ډول نظامونو کې د دیموکراسۍ یوه مهمه برخه (رقابت) وجود نلري او یو حزب ټول اختیارات په لاس کې لري د دغو نظامو بعضې طرفداران واي چې یو حزبي نظام کې عیننآ لکه دیوې

---

[17]: نقیب زاده، احمد.(۱۳۸۸ل). احزاب سیاسي وګروه هاي ذي نفوذ، نشرقوس ۹۱مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنۍ جوړښت اونظام لري څرنګه چې کورنۍ په طبعي شکل پيدا کيږي نو ځکه يوحزبي نظام هم طبعي نظام دي او په بعضې يو حزبي نظامونو کې ديو ګوند ترڅنګ نور رقيب ګوندونه هم وجود لري ولې سياسي صحنې ته درسېدو امکان يې هيڅ هم نه وي ځکه ټول قدرت ديو حاکم حزب په لاس کې وي او دغه نور کوچني ګوندونه په اسانۍ سره سرکوبه وي د دغه ډول نظامونو مثال په پخواني شوروي اتحاد کې دکمونيست حزب اولني يو حزبي نظام دي همدارنګه د اول نړيوال جنګ نه روسته ترکيه،المان،ايټاليا،هسپانيه،پرتګال او دنړۍ څو نورو هيوادونوکې هم يو حزبي نظام حاکم شوهمدارنګه په کمونيستي چين،يوګوسلاويا،چکسلواکيا،رومانيا،بلغارستان، مجار ستان اوڅو نورو هيوادونو کې هم يو حزبي نظام يا دکمونيست حزب تر رهبرۍ لاندې متحدې جبهې وجود لري.

**۲جز-ديو حزبي نظام خصوصيات:**

۱: يوحزبه آمريت: پدې نظام کې قانوناَ ديو حزب دجوړېدو اجازه وي دنورو حزبونو دتشکيل موقع نه وي همدا يو حزب د ټولو اختياراتو مالک وي دحکومت ټولې ادارې لکه انتظامي مقننه ،عدليه دهمدې حزب ترلاس لاندې خپل کارونه په مخ وړي په روسيه کې سپيريم سويټ قانون جوړونه کوله اودقونسل ټول انتظامي کارونه پرمخ وړل چې داټول دکمونيست حزب په هدايت ترسره کېدل ډاکټر فايز ليکي چې دکمونيست حزب د مرکزي کميټې درايو مطابق عمل کيږي سيريم سويټ به دهغه قوانينو چې مرکزي کميټې به ورته وړاندې کول توثيق کاو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا وجه ده چې په کال کې دهفتې ،نیمي هفتي په اجلاس سره د روس په شان وسیع ترین هیواد دقانو سازي ټول اومور ترسره کېدل.
۲: په اظهار باندي پابندي: دخلکو ته د رایو داظهار هیڅ حق نشته که کوم فرد یا ګروپ په امریت تنقید ونیسي نو سخته سزا ور کول کېږي تر دي چې که دحزب کوم شخص داختلاف جرآت وکړي نو کتل کېږي معوملي اختلاف هم دغداري مترادف ګڼل کېږي.
۳ : واحد نامزاد: په یو حزبه نظام کې انتخابات دنمایش لپاره کېږي. په روسیه کې خلکو ته مختلف نماینده ګان نه وي حزب دکمونیست حزب نامزاد شخص وي چې خلک دهغه په حق کې یا خلاف رایه اچونه کو ي.
۴: دحزب د ارکانو محدودیت: دجمهوري حزبونو دنظام په شان په یو حزبه نظام کې هم هر اتباع ته دحزب د شمولیت موقع په لاس نه ورځي. دحزب کفیت ترمخصوصو خلکو پوري محدود وي چې دوي هم د ډیر سختیو روسته په حزب کې شامیلیږي.
۵: غیر ذمدار حکومت: یو حزب خلکو ته ځواب نشي ورکولاي او نه هم د اکثرثت مطابق خپله پالیسي پر مخ بیولاي شي دوي عوامو ته هدایت کوي او هغوي د اصولو مطابق په ژوند تیرولو باندي مجبوروي او حزب په ټولو اومورو باندي نظر کوي.
۶: دقدرونو فقدان: جمهوریت،ازادي او تنفیذ په نامه کوم عنصر موجود نه وي له حقیقي جمهوري
قدرونو نه معاشره خالي وي او د خلکو د ذهنونو په نشونماکې کمي وي.[18]

---

[18]: نیاز، عبدالوحید.(۱۳۷۲ش هـ ). حقوق اساسي مقایسوي، چاپ سوم، انتشارات یوسف زاده ۷۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳مبحث ـد دوه حزبي نظامونو ګټې او نواقص:

**۱ جز: د دوه حزبي نظامونو ګټې:**

په دوه حزبي نظامونو کې چون ټول وزيران ديو حزب (حزب اکثريت) څخه وي نوځکه دخورا استقامت څخه برخورداره وي اويوه باثباته کابينه جوړه وي دباثباته کابينې په اساس دحکومت ثبات هم ډېر وي او داسې هم ندي لکه چې په کثيرالحزبي نظامونوکې چې هرحزب د وزارت دچوکۍ دلاسته راوړلولپاره هڅه کوي او حکومت يونوعه کمزوري سره مخ کيږي.

په دوه حزبي نظامونوکې د ديموکراسۍ تمثيلونکې يو واقعي نظام رامنځ ته کيږي او خلک په اسانۍ سره خپل نماينده ګان ټاکې او دزياتو سياستونو ښکار نه ګرځي د دې سره چې په دوه حزبي نظام کې د ديموکراسۍ يو واقعي تمثيلونکې نظام رامنځ ته کيږي ترڅنګ يې يو قوي اپوزيسيون (مخالف حزب) هم رامنځ ته کيږي چې دحکومت کړنې او نيمګړتيا وې په خورا دقت سره څاري.

لاسکې د دوه حزبه نظام دښه والي په هکله واي چې ( دوه حزبه نظام يواځينۍ لاره او طريقه ده چې خلک کولاي شي دانتخاباتو په دوران کې په مستقيم ډول خپل حکومت انتخاب کړي)

د دوه حزبي نظامونو بله ګټه داده چې پدې ډول نظامونو کې هرڅوک دمسؤليت احساس کوي او لکه کثيرالحزبي نظامونه داسې نه وي چې يو پربل باندې ملامتيا ور اچوي او هر څوک خپل ځان پاک او بې مسؤليته ګڼي ولې په دوه حزبي نظام کې همدا دوه حاکم حزبونه مسؤل دي نو ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هریو ځان شرمنده ګي څخه ساتي او کارونه په ښه دقت سره مخ پر وړاندې بیا يي.[19]

## ۲جز: د دوه حزبي نظام نواقص

د دوه حزبي نظامونو یولوي نقص دمقننه قوې د اعتبار له منځه وړل دي ما نا دا چې په دوه حزبي نظام کې اجرایه قوه په مقننه قوې غلبه پیدا کوي او د مقننه قوې اعتبار په شدت سره له منځه وړي، او درآیې ورکونکو لپاره صرف دوه نظریې موجودې وي اویوه غیر دیموکراتیکه فضا رامنځ ته کوي دهیواد وګړي صرف په دوه حزبونو پورې محدود پاتې کېږي او د وګړو هغه مفادات چې د دې حزبونو دحلقې څخه دباندې وي همداسې پاتې کېږي او عام وګړي ورته رسیده ګي نشي کولاي پداسې حال کې چې په کثیرالحزبي نظامونو کې کېداي شي چې یو نه یو حزب هغه غوښتنو ته رسیده ګي وکړي او دخلکو ضروریات رفع شي.

په دوه حزبه نظامونو کې اکثره د اوسني فکر خاوندان ځان لوړ صلاحیت ته نشي رسولاي ځکه چې د حزب پخواني مشران ورته دصلاحیتونو داظهار موقع نه ورکوي همدارنګه دغه حزبونه مداومت پیدا کوي او پدې متیقین وي چې نور احزاب ورسره شتون نلري نوځکه هغه پالېسي چې دوي جوړه کړې عملي کوي او د قوم ذهنونو څخه استفاده نه کوي نو ځکه خو کېداي شي چې پدې نوع نظامونو کې کوم نوښت رامنځ ته نشي او د دې ترڅنګ دملت دمغز څخه هیڅ استفاده نه کېږي نو ځکه خو هم د دې امکان شته چې دخلکو ذهنونه د رکود سره مخ شي ، په دوه حزبه

---

[19]: بویکو،ولادیمر.(۱۹۹۳م ).دولت واپوزیسیون درافغانستان،ژباړن عزیز اریانفر،بنګاه انتشارات میوند،کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظامونو کې يواځې د دوطبقو يا د دوفکرو والا قدرت ته رسيږي او کېداي شي چې دعوامو يوه برخه ديو فکر سره هم علاقه ونلري نو ځکه خو عدالت پکې په ښه توګه نشي تآمين کېدلاي ولې په کثيرالحزبي نظامونو کې بيا کېداي شي چې عوام ديو حزب سره نه دبل حزب سره خوبه همنظره وي ځکه هلته خورا حزبونه او خورا زيات افکار موجود وي.[20]

په هر حال اکثره علماء دڅوحزبي نظامونو څخه بيا هم دوه حزبي نظام په مراتبو بهتر ګڼي او دليل دا راوړي چې په دې نوع نظامونو کې ديو قوي اپوزېسيون په شتون کې چې د ديموکراسۍ دتحقق سازمانونو څخه يو مهم سازمان دي دهيواد پرمختګ په ښه ډول امکان پذيره دي.

## ۴مبحث:د څو حزبي نظامونوګټې او نواقص:

**۱جز دڅو حزبي نظامونو ګټې:** سره د دې چې څو حزبي نظامونو په کلي ډول خپل اهميت دلاسه ورکړي دي ولې بيا هم ديو لړ مزايا وو څخه برخمن دي د دوه حزبي نظامونو نواقص په حقيقت کې دڅو حزبي نظام مزاياوې دي لکه په څوحزبي نظامونو کې چې کله دڅو احزابو څخه حکومت جوړيږي د اجرايه قوې ديکتاتوري ختميږي همدارنګه مقننه قوه خپل استقلال پيدا کوي عوامو ته په پارلمان کې دخپلې خوښې د استازو د انتخاب زمينه مساعديږي همدارنګه دعوامو لپاره په پارلمان کې خپل مدافعين پيدا کېږي عدالت برقراريږي دعوامو منافع تآمين کېږي د دې ترڅنګ دعوامو ذهنونو څخه ښه سالمه استفاده هم کېږي .

---

[20]: اين قلي يور.(۱۳۹۰ش هـ ).دکتر،جامعه شناسي سازمان ها، تهران .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲جز دڅو حزبي نظامونو نواقص:** د دوه حزبي نظامونو ښه والي په حقيقت کې د څوحزبي نظامونو بدوالي دي په هرحال د څو حزبه نظام بدوالي دارنګه بيانولاي شو.

څوحزبي نظامونه کې دهېواد مقننه قوه د دسيسو ښکار ګرځي.

په څوحزبي نظام کې په دايمي ډول دحکومت بې ثباتي وجود لري چې دغه بې ثباتي دحکومت اداري کارونوته زيان رسوي.

ديو قوي مخالف حزب (اپوزيسيون) دزياتو حزبونو په شتون کې څرنګه چې لازم دي هغه شان رشد او توسعه نه پيدا کوي.[21]

# دريم فصل

---

## دفشار ګروپونه:

دفشار ګروپونه، ذي نفوذه ډلې،منفعتي ډلې او عقيدتي ډلې په عموم کې دفشار ګروپونو مختلف عناوين دي مګر بعضې ليکوالان دهغوی ترمنځ فرق ته قايل دي چې وروسته به يي واضح کړو.

دحزبونو او فشار ګروپونو ترمنځ دوه مهم او اساسي فرقونه وجود لري.

يو يې داچې سياسي احزاب درسمي سازمان او جوړښت لرونکې وي چې دفشار ډلې په رسمي توګه د داسي جوړښت په لرلو مکلفې ندي.

---

[21]: کويتي،مجله المجتمع .(۱۳۷۹ش هـ).احزاب اسلامي ومشارکت پارلماني،ژباړن، محمد ملازاده ، نشر احسان ، تهران .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دويم داچې سياسي احزاب په ښکاره او رسمي توګه دسياسي قدرت دلاسته راوړلو لپاره هلې ځلې کوي پداسي حال کې چې دفشار ګروپونه دسياسي قدرت دلاسته راوړلو لپاره په ښکاره توګه فعاليت نه کوي د دي ترڅنګ دفشار ګروپونو اوسياسي احزابو تر منځ يو سلسله فرقونه شته چې په ځانګړي عنوان کې به يي بيا په خپل نوبت سره مطالعه کړو.

دفشار ګروپونو جوړښت نه لرل د دي ګروپونو مطالعه سخته کړي ده په ځانګړي ډول د دي ګروپونو متعدد والي.

## لومړی مبحث- دفشار ګروپونو تعريف او دهغوي متشکله عناصر:

دفشار ګروپونه هغه سازمان دي چې د خپلو منافعو د دفاع لپاره په دولتي او عمومي قدرت باندي فشار راوړي تر څو دهغوي تصميمونه دخپلو منافعو سره عيار کړي او يا هم دمشترکو هدفونو لرونکې اشخاصو يوځای والي چې دخپلو هدفونو دتحقق لپاره دسياسي لاري څخه چې په عمومي قدرت باندي نفوذ ولري هلې ځلې کوي [22]

زيګلر دفشار ګروپونه دارنګه تعريفوي( دخلکو منظمه ډله ده چې دخپلومنافعو دلاسته راوړلو لپاره سره يوځاي کيږي او دحکومت په تصميمونو نفوذ واردوي بي له دي چې خپل غړي دي دحکومت رسمي مقامات وټاکې.

[22]:قرضاوي،يوسف،اخوان المسلمين هفتاد سال دعوت ترتيب وجهاد، ژباړن،عبدالعزيز سليمي، نشر احسان خيابان خسرو۸۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفشار ګروپونه په سياست کې نوي پديده نده بلکې کولاي شو چې له ډېر پخوا او همدارنګه په هر نظام کې يي شتون پيدا کړو ولي د دغو ډلو علمي پيژندنه اوڅيړنه پخپل ذات کې نوي رامنځ ته شوي ده. دلومړي ځل لپاره آرتور بنتلي په خپل کتاب کې د (روند حکومت) کوم چې په ۱۹۰۸ ميلادي کې نشر شو دفشار ګروپونه په منظمه توګه بر رسي کړي دي اما دي موضوع ته پراخه علمي توجه په ۱۹۴۵م کال کې شروع شوه.

دفشار ګروپونه دري عمده متشکله عناصر لري ۱: سازمان(جوړښت) ۲: له منافعو څخه دفاع ۳: دفشار اعمال چې هريو به يي په دي ډول مطالعه کوي.

**اول جز سازمان(جوړښت) :** بعضي ليکوالان دفشار ګروپونو دخود جوشه فعاليتونو او غير سازمان يافته فعاليتونو دبيلوالي لپاره سازمان او جوړښت ضروري ګڼي ، اما بعضي ليکوالان هر اجتماعي حکومت چې پر دولت ياسازمانونو او احزابو باندي دفشار را وړلو سبب کېږي دفشار دګروپو تر نوم لاندي طبقه بندي کوي. آلموند او پاول دجوړښت له کبله دغه ډلې په څلورو اقسامو طبقه بندي کوي .

**الف:** بي نوم اونښانه منفعتي ډلې :چې په خود جوشه او ناپايداره توګه عمومًا دتاوتريخوالی ډک فعاليتونو سره څرګنديږي.

**ب:** غير ډليزيي منفعتي ډلې: غير رسمي او غير ارادي ډلي دي چې ده اعتقادي او جغرافيوي پيوندو په اساس سره يوځاي کېږي او صحني ته حاضريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ج:** رسمي منفعتي ډلي: هغه ډلي دي چې په رسمي قالب کې څرګندیږي لکه پارلمان چې په عین وخت کې رسمي وظیفو د اجرا سره سره دفشار د ډلي په څیر هم عمل کوي.

**د:** منطقه یي ډله اییزي منفعتي ډلي: لکه ارادي سازمانونه چې دبعضو ډلو له منافعو څخه د دفاع په خاطر تشکېل شو ي دي.

څرګندیږي چې حد اقل د سازمان او جوړښت لرل حتمي دي ، ترڅو وکولاي شي دمورد نظر ډلي حدود مشخص کړي شي.

**دوهم جز له منافعو څخه دفاع:** دفشار ګروپونو لپاره یواځي جوړښت او تشکېل کافي ندي بلکې دعکس العمل او مبارزي اداره او همدارنګه دفشار دایجاد وجود ولري ځکه یو تفاوته سازمان دهیڅ اثر منشا نشي کېداي سازمان باید دخپلو اهدافو سره دځینو دمنافعو څخه دفاع کوونکې وي ، له بل پلوه دمنفعت مفهوم هم روښانه ندي اکثره امریکایي لیکوالان منفعت هغه پراخه مانا او مفهوم چې په واقیعت کې دمختلفو علاقو لرونکې وي په نظر کې نیسي چه نتیجه کې دمنفعت څخه باید تنها دا برداشت ونشي چې منفعت یواځي مادي برخه لري.[23]

[23]: دولت یار،دولت.(۱۳۷۸ش هـ ). نظام های معاصر،انتشارات سعید، کابل .۱۱۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دريم جز- دفشار تطبيق:** دسياسي فعاليتونو له انواعو څخه يو هم دپخواني مروج عمل پر موجوده سياسي قدرت باندې دفشار اعمالول دي. دجوړښت،ايډيالوژي،سياسي،فرهنګي اوبعضي نور ډير عوامل دفشار ګروپونو په عکس العملونو کې مؤثر واقع کېږي.په هغه ټولنه کې چې دعمومي او سياسي فرهنګ سطحه ټيټه وي دفشار ګروپونه هدف ته درسيدو لپاره له هيڅ نوع وسيلي څخه صرف نظر نکوي،دتهمتونو واريدول، دافرادو شخصي ژوند حوزي ته داخليدل، بي حرمتي دهغو عواملو له جملي څخه دي چې په روسته پاتي ټولنو کې دفشار ګروپونو او حتي سياسي احزاب ورڅخه استفاده کوي او متنفره سياسي فضا رامنځته کوي چې د دې ناخوالي اولينه نتيجه داوى چې افراد دسياست او نورو ټولنيزو فعاليتونو څخه صرف نظر کوي.

**څلورم جز-استقلال:** بعضي ليکوالان دفشار ګروپونو په استقلاليت باندي هم تاکېدکوي که کومه ډله دبلي ډلي يا حزب ترنظارت لاندي وي هغه بايد دفشار ګروپ ونه ګڼل شي بلکې په حقيقت کې دغه ډله دهغي ډلې چې دي يي ترنظارت لاندي وي دهغوي دفشار دتطبيق وسيله ده لازم دي چې دفشار ډله دومره استقلاليت ولري چې دخپلو ستراتيژيکو اهدافو لپاره تصميم ونيسي ترڅو وکولاي شي چې اقلًا دغه ډله دفشار په ګروپونو کې قرار ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲ مبحث-دفشار ګروپونو ځانګړتیاوي:

**اول جز- شخصي نفع(مفادات):** شخصي نفع په حقیقت کې دفشار ګروپونو درامنځ ته کېدو وسیله ده. دمشترکو ګټو لرونکې خلک سره جمع کېږي ترڅو داسي ډله جوړه کړي چې دخپلو ګټو لپاره مبارزه وکړي.

**دوهم جز-پټه سیاسي څیره:** دفشار ګروپونه نه غواړي چې خپله سیاسي څیره په ښکاره څرګنده کړي نه یواځې داچې خپله سیاسي څیره نه څرګندوي بلکې کله کله په ښکاره ډول سیاسي صحني ته په راتګ سره شرمیږي.همدارنګه دفشارګروپونه دسیاسي او غیر سیاسي فعالیتونو په منځنۍ سطحه کې قرار لري. [24]

**دریم جز- دفشار ګروپونو اوسیاسي احزابو ترمنځ فرق:** سیاسي احزاب دزیاتو خلکو جمع والي دي او دهیواد په سیاستونو کې په ښکاره ډول حیاتي نقش لوبوي اما دفشار ګروپونه محدود محفل لري دپردي ترشا خپل نقش لوبوي سیاسي احزاب په سیاست کې شرکت لري ځکه دهغوي ماهیت سیاسي دي اما دفشار ګروپونه داسي ندي ، حزب دسیاسي قدرت دلاسته راوړلو هڅه کوي اما دفشار ګروپونه دا هدف نلري.

دو ورژه دفشارګروپونو او احزابو په اړه داسي لیکې( احزاب دتاریخ په معینه دوره(شلم قرن) کې په دیموکراسي نظامونو کې رامنځ ته شو ي دي اما دفشار ګروپونه په هره دوره او هر نوع رژیمونو کې لیدل کېږي دفشار ګروپونو حدود دسیاسي احزابو دحدود څخه کم دي په حقیقت کې احزاب هغه سازمانونه دي چې دسیاسي قدرت دلاسته راوړلو لپاره رامنځ

[24]: آلن ر ، بال .(۱۳۶۹ش هـ ). سیاست وحکومت جدید، ژباړن، عبدالرحمن عالم، نشر قوس۱۸۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته شوي دي برعکس دفشارګروپونه غیرسیاسي سازمانونه دي چې سیاسي فعالیتونه یي په قدرت باندي نفوذ نلري.

**څلورم جز-دفشار ګروپونه سیاسي او یا نیمه سیاسي دي:** بعضې دفشار ګروپونه چې اوږ مهاله منافع څخه حمایت کوي سیاسي دي او هڅه کوي داعضاو دمشترکو امتیازاتو دتامین لپاره په سیاسي بهیر کې مشارکت کوي، اما بعضې له دغو ډلو څخه د اعتقادي ،مذهبي اویاهم له بشر دوستانه اهدافوڅخه حمایت لپاره په موقت ډول تشکېلې شوې دي او دهغوی فعالیتونه په حکومتي فعالیتونو پورې نه مربوطیږي.

**پنځم جز- جهانشمول والي:** دفشار ګروپونه جهانشموله دي اودنړۍ په هریواد کې شتون لري.

## دریم بحث: دفشار ګروپونو پېژندنه او یشنه (تقسیم بندي):

لکه څرنګه چې مو مخکې هم و ویل چې دفشار دګروپونو متعدد والي د دې ګروپونو پېژندنه خورا سخته کړي ده خو بیا هم په هرحال علماء د دغو ګروپونو په پېژندنه کې ارام ندي پاتي شوي او خپلې هڅې یې جاري ساتلي دي او بالاخره دخپلو زیاتو هڅو نه روسته یې د دغو ګروپونو تقسیم بندي دڅو معیارونو په نظر کې نیولو نه روسته په دي ډول کړي ده.

**الف- د فشار ګروپونو ویشنه د داخلي جوړښت له کبله:**

په لومړي سرکې کولاي شوچې دفشار ګروپونه به دهغوئ د غړو په اساس په لویو او کوچنیو ګروپونو تقسیم کړو او بیایې دعضویت دځانګړني په اساس هم تقسیم کولاي شو چې ارادي او غیر ارادي دي. په ارادي ډلو کې اشخاص دیخوانیو معلوماتو او خبرتیاوو په لرلوسره دیوې ډلې په تشکېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې يوځای کيږي. اما په غير ارادي کې د ډلې شتون دهغو دغړو له ارادې سره کوم تړاو نلري لکه دخپلوانو او دوستانو ډلې . . . . . . .

**ب-دفشار ګروپونو ويشنه د منافعو او اهدافو په اساس:**

له دې زاويې څخه کولای شو چې ګروپونه په مادي او معنوي ډلو تقسيم کړو.

1-مادي (منفعتي ډله): معمولًا دغه نوع ډلې حرفه يې او شغله پېشه وي چې دهغه خطرونو څخه دفاع کوي کوم چې د دوي شغل او دپېشې ته متوجه وي. د دوي له ډلې څخه کارګرې او کارفرما اتحاديې دخاص اهميت لرونکې دي چې دسرمايه دارې ټولنې دوه اساسي طبقې تشکېلوي. دغه اتحاديې دسياسي حزبونو له قدرتمندو متو څخه هم حسابيږي.مثلًا په فرانسه کې دCGT اتحاديه چې دکمونيست حزب او همدارنګه دCFDT اتحاديه چې دسيوسياليست حزب سره تړاو لري. د دې ترڅنګ دالمان CSA اتحاديې کنفدراسيون چې دسوسيال ديموکرات حزب سره سياسي تړاو لري.[25]

۲-دمعنوي منافعو دمدافعينو ډلې: د اولې ډلې برعکس غيرمادي ډلې دي چې د عقيدتي، مذهبي،روشنفکري وغيره وته شاملي دي. د دغو ډلو نمونې لکه دښځو طرفداران پخواني جنګ جويان( دوم نړيوال جنګ) او همدارنګه دعلم او فرهنګ سازمان چې دغه ټول بيا دکارګري او دهقاني طبقې سره بلا فرق لري.

**ج-دفشار ګروپونو وېشنه د غړو(اعضاو) دحقوقي شخصيت له کبله:**

---

[25]: امجد، محمد.(۱۳۸۸ش هـ ). سياست وحکومت در ايالت متحده، تهران .۹۸مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته کولاي شو چې دعمومي او خصوصي ډلوترمنځ فرق ته قائل شو. هغه ډلې چې داوسېدونکو (شهروندان)اشخاصوپه نوم سره تشکېل شي دخوصي ډلې څخه عبارت دي.او هغه دولتي سازمانونه چې ديوې خاصې منافع لرونکو په نوم په نورو دولتي نهادونوباندي دفشار په اعمالو لاس پوري کوي او حتي له تهديدونو څخه هم ويره نلري عمومي ډلي ګڼل کېږي.

دمثال په ډول لکه څرنګه چې دنشر شويو اسنادو او دمدارکو څخه څرګنديږي چې په کال ۱۹۶۳ د امريکا دجمهور ريس وژنه د دغه هيواد څارګرې اداري CIA او پنتاګون لاسته راوړنه وه.د دې عمل تفسير دادي چې دامريکا نظاميان او د CIAغړي د امريکا او شوروي له نژدي سياست څخه کوم چې د دغو دوه ( CIA او پنتاګون) دنفوذ دکموالي سبب کېږي ناخوښه دي. همدارنګه کولاي شو چې يوه بله ويشنه هم وکړو کوم چې فرق په مابين دملي او بين المللي ډلو کې ده.[26]

## څلورم بحث- دفشار ګروپونو ځانګړې دندې:

دفشار دګروپونو غير تخربي کارونه تر ډېره حده دسياسي احزابو په څيردي اما په اندازه او تعداد کې دسياسي احزابو څخه دفشار د ګروپونو دغه کارونه زيات دي. که احزاب په جمعي ډول ګټې رسوې خو دفشار ګروپونه په پيوندي ډول خلکو ته ګټې رسوي او دخلکو منافع ديوې غوښتنې په قالب کې بيانوي جې دا عمل يې دخلکو درضايت سبب شوي

[26]: نقيب زاده، احمد.(۱۳۸۸ل). احزاب سياسي وګروه هاي ذي نفوذ، نشرقوس .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي چې هغوئ يې د انفرادي اقدامتو اوخشونت اميزه فعاليتونو څخه منع کړي دي.

دفشار دګروپونو رول په اجتماعي مدغم والي کې هم له پامه نشو غورځولاي ځکه دشخص اړيکه دجامعې سره په شروع کې دشغل اوعقيدتي ډلو په اساس صورت نيسي.

که سياسي نظام يی داسي وي چې په هغه کې دټولو ډلو دغوښتنو لپاره قانوني لارې وجود ولري او اجتماعي ډلې د ديموکراسي دفرهنګ څخه مستفيدي وي نو هغه نه غواړي چې دخپلې ډلې غوښتنې په نورو تحميل کړي ، دسياسي نظام کړنې په مجموع کې شايد دټولو ګروپونو او ډلو دکړنو مطابق وي، له بل پلوه بايد ټوله د ادغام او يو والي ترحده رسيدلي وي چې دمتفاوته ډلو غوښتنې يو دبل سره مخالفې نه وي او يو له بل سره دبيلوالي حالت دځان لپاره غوره نکړي دفشار ډلو په رامنځ ته کېدو کې يو بل پټ راز دايټاليا شمال چې د دي هيواد دجنوب سره خورا اقتصادي توپير لري نو ځکه خو په جنوب کې دمافيايي ډلو د رامنځ ته کېدو سبب ګرځېدلي دي.

يا په هغه ټولنو کې چې خلک پکې دفقير او غني ترمنځ په خورا فرق قائل وي نو پدي ټولنو کې دغريبو ډله هيڅکله هم دي ته انتظار نه باسي چې ګواکې د دوي غوښتني دي په ارامه توګه ترنورو پوري ورسوي بلکې دوي دمسلحانه مبارزې په اقدام کولوباندي مجبوريږي چې پدي حالت کې دمافيايي ډلو په عوض کې چريکې ډلې راپيدا کېږي.

دفشار ګروپونو له ډلې څخه خطرناک ترينې ډلې يې عقيدتي او ايدیالوژيکې ډلې دي چې دوي دځان پر وړاندې ټولې لارې بندې ګڼي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو هيلو ته د رسېدو لپاره هيڅ کومه قانوني لاره نه وي او همدارنګه دوي نشي کولاي چې دخپلې عقيدي څخه صرف نظر وکړي له همدي ځايه ده چې دهغه ټولو ډلو او ګروپونو کوم چې دټولني دسياسي نظام ساتونکې دي صلاح په دي کې ده چې دغه ډول ګروپونوته دفرار کومه لاره پيدا نکړي.ځکه سياسي نظام د دغه ډلو ډلولپاره له دو لارو څخه بله کومه لار نلري. يابه دغه ډول ګروپونه کاملًا د زوال سره مخ کوي او يابه هم دهغوي دقانوني فعاليتونو لپاره لاره پيدا کوي. ښه به وي چې که د دوهمي لاري څخه استفاده وشي ځکه چې تخريبي ډلې په تدريج سره دحالاتو سره ځان برابره وي او شايد د اور په څير د ايرو لاندي عمل ونکړي.

## ۵ بحث: دفشارګروپونو سياسي اهميت:

دفشارګروپونه په ديموکراتيک او په توتاليتري حکومتونو کې عمده نقش لري په ديموکراتيک حکومت کې دفشار ګروپونو فعاليت حکومت ته متوجه وي اما په توتاليتري حکومتونو کې په کلي ډول په مخالف جهت کې جريان لري دفشار ګروپونو رول او نقش کولاي شو چې په لاندي ډول مطالعه کړو.

**۱ ـدفشار ګروپونه اوانتخابات:** دزياتو فشار ګروپونو لپاره انتخابات دتوجه وړ دي ځکه د انتخاباتو په اساس کولاي شي چې دخپلي خوښي اشخاص انتخاب او دهغوئ په واسطه دحکومت دکار کولو په ميکانيزم باندي نفوذ ولري دفشار ګروپونه دانتخاباتو په مختلفو برخوکې( دنوماندانو معرفي درايو راټولونه او انتخاباتي مبارزه) کې هلي ځلي کوي او غواړي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقننه قوه کې دخپلې خوښي چوکۍ ولري ، اما دغه ګروپونه خپله سياسي لوبه دپردي ترشا سرته رسوي امکان لري چې دفشارګروپونه دخپلې خوښي نوماندانو لپاره ديو سياسي حزب څخه ملاتړ وکړي او له دي امله چې زيات رايه ورکوونکې په اختيار کې لري نو په اسانۍ سره کولاي شي چې ديو حزب سره چنه ووهي دخپلې خوښي وړ خلک د دي يا هغه حزب دغړو په نوم معرفي کړي،کېداي شي چې بعضي پُرنفوذه فشارګروپونه سره متحد شي او يو سياسي حزب دي ته اماده کړي چې داسي اشخاص انتخاباتو ته معرفي کړي کوم چې د دوي دمنافيعو بهترين مدافعين دي. نو ځکه خو بيا انتخاب شوي اشخاص د زړه له کومي د دوي دمنافعو دفاع کوي.

**۲ دفشار ګروپونه او مقننه قوه:** انتخاب شوي اشخاص دحکومت په تصميم نيونه کې دفشار ګروپونو په ملاتړدحکومت په تصميم نيونه کې ګډون کوي کوم چې دفشارګروپونو ته خورا مؤثر تماميږي.

**۳ دفشار ګروپونه او اجرايه قوه:** دفشار ګروپونه په اجرايه قوه کوم چې دهيواد عمومي سياستونه تدوينوي خپل نفوذ اعمالوي په پارلماني حکومتونو کې دفشار ګروپونه دمقننه قوي له لاري په اجرايه قوي نفوذ واردوي، په مقننه قوه کې دفشارګروپونومنتخب غړي دسوالونو په طرح کولو،استيضاح،دمجلس دجلسو موقتي تعطيل دمقننه قوه دمشورتي کميټو د رسمي پيشنهادو په اساس په اجرايه قوه خپل نفوذ اعمالوي.[27]

په امريکا کې دفشار ګروپونه دمقننه قوي دسنا مجلس دجلسو دموقتي تعطيل په اساس ريس جمهور دفشار لاندي را ولي ترڅو د دوي دخوښي

---

[27]: نقيب زاده، احمد.(۱۳۸۸ل). احزاب سياسي وګروه هاي ذي نفوذ، نشرقوس .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړ خلک(سیاسي نظامي او دیپلوماتیک) مقامقات دسنا مجلس ته معرفي کړي.

**۴ دفشار ګروپونه او قضایه قوه:** قضایه قوه هم دفشار ګروپونو له نفوذ څخه مصؤنه نده، سره د دې چې قضایه قوه دسیاسي لحاظه بیطرفه ده اما دفشار ګروپونه دعمومي افکارو دمؤثر هجوم له لاري دقضایي بهیر په شاوخوا باندي نفوذ اعمالوي دقضاتو دفشار لاندي نیول یا دهغوئ مخه نیول مطلوب نده، اما دعمومي افکارو رامنځ ته کول په قضاتو باندي دنفوذ داعمالولو لپاره یوه دیموکراتیکه لاره ګڼل کېږي.

دهیواد عالي دیوان هم د مقالو او مجلو د نظرونو د تاثیر لاندي راځي مهمي سرمقالي همدارنګه بعضي مهمي حقوقي نظریي په هیواد کې دقضاتو ترلاسونو ور رسیږي. په امریکا کې کله چې د قضاتو په انتخاب کې سیاست ملاحظات وجود لري نو دفشار ګروپونه مداخله کوي تر څو نوماند قاضي رد کړي او یا دخپلي خوښي قاضي تائیدوي نو له دي څخه دفشارګروپونو نفوذ په قضایه قوه له ورایه څرګندیږي.[28]

**۵ عمومي افکار او دفشار ګروپونه:** دفشارګروپونه په ټولوسیاسي نظامونو کې دعمومي افکارو په رامنځ ته کولو کې مهم رول لري.

دچایلدز په وینا دفشار ګروپونه دخلکو په ذهنونو دنفوذ لپاره دري ډوله ستراتیژي لري .

[28]: مصؤن، غلام سخي.(۱۳۵۴ش هـ ). روابط بین المللي افغانستان از نګاه حقوق عمومي بین المللي، انتشارات سعید،کابل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اول:** دخلکو دتعقل دقوي او توانايي سره وصل کيږي او دا کار دانتشاراتو او خپرونو په ځانګړي راپورونو،بیانې،دمطبوعاتي کنفرانسونو جوړونه او دپراخو بحثونو له لاري سرته رسوي.

**دوهم:** دنفرتي عواطفو ترغيب، وېره او ډار او بله هرنوعه عاطفه انتخابوي ترڅو افکارو ته تغير ورکړي.

**دريم:** دخپلو غوښتنو لپاره دتوجه جلبولودمحبوبيت دپيدا کولو تکتيک په کار اچوي او دتبليغاتو او درايه ورکوونکو يا نفوذ لرونکو څخه دځانګړي غوښتنې په اساس خپل نفوذ څرګنده وي. پس دي ته په کتو سره ويلاي شو چې ديموکراتيکو حکومتونو کې دفشار ګروپونو عمده رول او هر وخت چې وغواړي دمسؤليت احساس وکړي نو سياسي نهادونه دفشارلاندي راولي ترڅو د دوي دنظر وړ منافع تآمين کړي.[29]

**تبصره:** څرنګه چې په دې ليکنه کې مونږ درې عمده موضوع ګانوته اشاره وکړه چې يوپخپله سياسي احزاب و او بل يي هغه نظامونه وو کوم

[29]: مایکل راسکین رابرت کوردو جیمز میډیوریس او والټر جونز.(۱۹۸۹م ).پولیټیکل ساینس ژباړه او لنډیز، ډاکټر محمد صدیق ظهیر،علامه رشاد خپرندویه ټولنه کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د دغو ډلو ټېلو څخه رامنځ ته کېږي چې هغه مونږ په مکمله توګه مخکې تشریح کړي دي او په پاي کې یوه بله موضوع دفشار ګروپونه مو هم تشریح کړي دي چې دهغوي پېژندنه، انواع او سیاسي اهمیت مو هم په مکمل ډول تشریح کړه، دلته دیو خبري یادونه ضروري بولم هغه دا چې مخکې موږ دفشار ګروپونو اوسیاسي احزابو ترمنځ فرق ته اشاره وکړه او په ډیره ښه توګه مو واضح کړل ولې د دې ترڅنګ یوه بله ډله هم وجود لري چې هغه هم په دولت باندي په شکل داشکالو فشار واردوي او دغه کوچنۍ ډله بیا دخاصو منافعو مدافعین بلل کېږي کومه چې تنها د دي لپاره رامنځ ته کېږي چې یوائې دخپلو منافعو څخه دفاع وکړي او بس که څه هم دغه ډله هم په حکومت باندي فشار واردوي خو بیا هم دفشار دهغه ګروپونو سره کوم چې مونږ مخکې مطالعه کړل دغه ډله فرق لري هغه دا چې دغه ډلي تنها لکه څنګه چې مو مخکې و ویل دخپلو منافعو نه دفاع کوي او بل هیڅ کوم نوع غرض نلري لکه دګوډانو او شلیانو اتحادیه .که په حکومت فشار راوړي هم یوائې په یوه کوچنۍ او محدوده ساحه کې به وي او کېداي شي چې د دوي حرکتونه دومره قوي هم نه څومره چې دفشار دګروپونو وي او د دي ترڅنګ یي یو بل لوي فرق چې دفشار دګروپونو سره یي لري هغه دادي چې دفشار ګروپونه دپردي ترشاه په یوه اندازه سیاسي لوبه ترسره کوي ولې خاصو منافعو مدافعین هیڅکله هم داسي خاصیت نلري.

لکه څرنګه چې مو مخکې هم و ویل چې دفشار ګروپونه کېداي شي چې د انتخاباتو په وخت کې دنورو ډلو سره لاس یو کړي او له دي لار ي هم په حکومت فشار واچوي خو دخاصو منافعو مدافعین بیا داسي اعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library

نکوي او دا ډلې په خپل ذات کې ډېرې کوچنۍ هم وي او حرکات یي هم دومره مؤثره نه وي ، نو کولای شو چې مونږ ذي نفوذه ډلي په دریو عمده کټګوریو تقسیم کړو.

۱- سیاسي احزاب

۲- دفشار ګروپونه

۳- دخاصو منافعو مدافعین

چې دغه دوه اولې ډلې مونږ په خپله لیکنه کې په مکمل ډول تشریح کړي دي او پاتي دریمه یوه یي (دخاصومنافعو مدافعینو) ته مو په لنډ ډول په تبصره کې اشاره وکړه او په همدي اکتفاء کو. یاده دي وي چې دخاصومنافعومدافعین هم لکه دفشارګروپونه بنه والي اوبدوالي لري. همدارنګه د غه ډلې مختلفې انواع لري او ځانګړې دندې یې هم دیادولو وړ دي خو داچې لیکنه خورا پراخه نشي مونږ یواځې ترینه دتبصري په ډول یادونه وکړه اونور یي په خپل ځاي پریږدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

دالیکنه چي په کل کي سیاسي احزابو او ذي نفوذه ډلو ته ځانګړي کړاي شوي وه او همدا ډلې پکي تشریح شوي ، ددې څخه معلومیږي چي په یو هیواد کي دښي حکومتداري لپاره دسیاسي احزابو او دفشارګروپونو او داسي نور ذي نفوذه ډلو شتون حتمي او لازمي امر دي او دښې حکومتولۍ تصور بیدون له دي ډلو څخه ناممکنه ده د دي ترڅنګ چي لازمه ده چي دغه ډلې هم خپل ځانونه وپیژني، خپل قانوني صلاحیتونه درک کړي او همدارنګه د دوي ټول فعالیتونه باید په یوسالم رقابت استواري وي او کنه غیر له دي نه که داسي ډلې هیڅ وجود ونلري لا بهتر دي، یو بل څه چي له دې لیکنې لاسته راځي هغه دحزبي نظامونو په هکله یوڅو نقطې دي هغه چي لازم دي باید په هیواد کي حزبي سیستم وجود ولري ، ترڅو له یو طرفه دخلکو ارزو ګاني پوره شي او له بل پلوه به دچارواکو له ذهنونو څخه د دیکتاتوري حس هم له منځه تللي وي ، د دي ترڅنګ په یو هیواد کي دحزبي نظامونو شتون دهغه هیواد دپرمختګ تر ټولو ښه وسیله ده باالخصوص دیو قوي آپوزیسیون په شتون کي خو بیا پرمختګ نه بلکي پرمختګونه ډېر ښه تحقق پیدا کولاي شي.

دحزبي نظامونو دڅرنګوالي په مورد ویلاي شو چي که په یوهیواد کي دوه ګوني حزبي نظام وي تر بل هر نوع حزبي نظامونو څخه مؤثر تمامیدلاي شي لکه څرنګه چي دي خبري ته موږ په خپل وخت کي هم اشاره وکړه او په مکمل ډول مو تشریح کړي دي نوپه خلاصه توګه ویلاي وایوچي له یو حزبي او څو حزبي نظامونو څخه دوه حزبي نظام غوره دي له بل پلوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنړۍ په بعضي پرمخ تلليو هيوادونو کي هم دوه حزبي نظامونه وجود لري لکه دامريکامتحده ايالاتو ، انګلستان او داسې نور هيوادونه.

## وړانديزونه:

۱: لازم ګڼم چي سياسي احزاب تر هرڅه دمخه له قانون څخه خبراوي ولري او خپلې ټولې چارې دقانون مطابق مخ پر وړاندې بوځي

۲: ديو ملت د ارمانونو دپوره کيدو لپاره دوه ګوني حزبي سيستم بهتره ګڼم.

۳: په يو هيواد کي دسياسي احزابو شتون راته حتمي ښکاري.

۴: ضرور ګڼم چي سياسي ګوندونه هم خپل نظريات په او اهداف په ښکاره ډول په خپلو اساسنامو کي ځاي پر ځاي کړي.

۳: مخالف ګوند ته ضرور ګڼم چي په واقيعي ډول د يو قوي اپوزيسيون دنده پرمخ بوځي نه دا چي دخپلو شخصي منافعو په نظر کي نيولو سره فعاليتونه وکړي.

۴: د يو آپوزيسيون نظريات نه بايد په يوي محدودي ساحي پوري محدودي وي لازم بولم چي يو لوي اپوزيسيون ديو لوي فکر لرونکي وي.

۵: د افغان حکومت موجوده اپوزيسيون هم راته قانوني اپوزيسيون نه ښکاري البته شتون به يي قانوني بڼه ولري خو د دوي ټول نظريات يواځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوي تر شخصي منافعو پوري محدودي دي، ورته لازم بولم چی خپله کاری او دنظر ساحه پراخه کړی.

۵: د اپوزیسیون د رامنځ ته کیدو لپاره لازم بولم چي اول دوي دخپل فعالیت سطحي و پیږني او بیا یي په تشکیل غور وکړي.

۶: یو آپوزیسیون نه باید تنها د دي لپاره وي چي ځان هدف ته ورسوي او یوائځي انتخاباتي مسائل وپیږني اوبس، بلکي لازمه ده چي دحاکم حکومت د اعمالو یوه قوي څارونکي وي او دهغوي دنیکو اعمالو ستاینه هم وکړي.

۷ : د یو اپوزیسیون لپاره لازم بولم چي وخت پر وخت دحکومت کړني وګوري او قوي نظارت ترینه ولري د دې ترڅنګ اپوزیسیون باید تل مدام خپل ملاتړي وپیږني او تکرارًا وایم چي نه یوائځي د انتخاباتو په وخت کي خلک وپیږني او ورسره راشه درشه ولري .

۸: دګوندونو ترڅنګ په هیواد کي نورې ذي نفوذه ډلې هم راته ضرور ښکاري ښه ده چي په یو هیواد کي مختلف دفشار ګروپونه وجود ولري ترڅو حکومت خپلونیمګړتیاوته متوجه کړي.

۹: ښه به وي چې سیاسي ګوندونه دهیواد په مختلفو ولایاتوکي څانګې ولري.

۱۰: دمطلق العنانه حکومت دله منځه وړو لپاره دحزبي نظامونو شتون ترټولو بهترینه لار ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

۱: عالم،عبدالرحمن .( ۱۳۷۳ش هـ ). بنيادهاي علم سياست، نشر ني، تهران

۲: بشريه،حسين.(۱۳۷۰ش هـ ). اموزش دانش سياسي، نشر نگاه معاصر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳: ملک،فاروق .(۱۳۶۶ش هـ ). ملک،خرم، اصول سیاسات، ناشر جدید بک ډپو

۴: دافغانستان اسلامي جمهوریت ، دسیاسي ګوندونو قانون.(۱۳۸۸ل ). رسمي جریده، دعدلي وزارت ،کابل .

۵: شینواري،بشارت الله.(۱۳۹۴ل ). عمومي اساسي حقوق، ننګرهار پوهنتون دحقوقو اوسیاسي علومو پوهنځی .

۶: مایکل راسکین رابرت کورډ و جیمز میډیوریس او والټر جونز.(۱۹۸۹م ). پولیټیکل ساینس ژباړه او لنډیز، ډاکټر محمد صدیق ظهیر،علامه رشاد خپرندویه ټولنه کندهار

۷: نقیب زاده، احمد.(۱۳۸۸ل). احزاب سیاسي وګروه هاي ذي نفوذ، نشرقوس .

۸: نیاز، عبدالوحید.(۱۳۷۲ش هـ ). حقوق اساسي مقایسه یي، چاپ سوم، انتشارات یوسف زاده

۹: آلن ر ، بال، .(۱۳۶۹ش هـ ). سیاست وحکومت جدید، ژباړن، عبدالرحمن عالم، نشر قومس

۱۰: بویکو،ولادیمر.(۱۹۹۳م ). دولت و اپوزیسیون در افغانستان،ژباړن عزیز اریانفر،بنګاه انتشارات میوند،کابل .

۱۱: مصؤن، غلام سخي.(۱۳۵۴ش هـ ). روابط بین المللي افغانستان از نګاه حقوق عمومي بین المللي، انتشارات سعید،کابل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲: دولت يار،دولت.(۱۳۷۸ش هـ ). نظام هاي معاصر،انتشارات سعيد، کابل .

۱۳: اين قلي يور.(۱۳۹۰ش هـ ). دکتر،جامعه شناسي سازمان ها، تهران .

۱۴: کويتي،مجله المجتمع .(۱۳۷۹ش هـ).احزاب اسلامي ومشارکت پارلماني،ژباړن، محمد ملازاده ، نشر احسان ، تهران .

۱۵: امجد، محمد.(۱۳۸۸ش هـ ). سياست وحکومت در ايالت متحده، تهران .

۱۶:قرضاوي، داکتريوسف،اخوان المسلمين هفتاد سال دعوت ترتيب وجهاد، ژباړن،عبدالعزيز سليمي، نشر احسان خيابان خسرو

۱۷: قرضاوي، داکتريوسف .( ۱۳۸۱ش هـ ). فقه سياسي، ژباړن،عبدالعزيز،سليمي

۱۸: انټرنټ،ګوګل ويبپاڼه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**